# د هشام بن حکم ژوند لیک

لیکوال: اسد حیدر

ژباړه: محمدرحیم درانی

Download from:aghalibrary.com

## هشام بن حکم

«یا هشام ما زلت مؤیدا بروح القدس؛ ای هشام! ته همیشه روح القدس سره تایید شوی یې» (امام صّادق علیه السلام)

«رحم الله هشاما کان عبدا ناصحا؛ خدای دې په هشام رحم وکړي یو نصیحت کوونکی انسان و» (إمام رضا علیه السلام)

«لسان هشام أوقع فی نفوس الناس من ألف سیف؛ د هشام ژبه له زرو تورو زیاته په خلکو کې اثر کوونکی وه». (هارون الرشید)

### د هغه نسب او د په هکله یې د عالمانو خبرې

هشام بن حکم کندی[۱] أبو محمّد بغدادی وفات کال۱۹۷ هجری.

په کوفې کې وزیږید او هلته او واسط کې یې ژوند وکړ، او بغداد ته د تجارت لپاره تله راتله، خو څه موده وروسته هم هلته آباد شو، څه وخت وروسته د وضاح ماڼۍ ته چې د السلام ښار په کرخ کې وه لاړ، په واسط کې یې هم یو کور و، هغه به له یوه ښاره بل ښار ته تله او

۱. د ابن ندیم فهرست کتاب ۲٤۹مخ، تکملة ۷مخ، الملل و النحل ۱ټوک، ۳۰۸مخ، لسان المیزان ٦ټوک ۱۹٤مخ، مراجعات د شرف الدین کتاب ۳۰۰- ۳۰۱مخونه، د خیاط انتصار په ډیرو ځایونو کې، ضحی الإسلام ۳ټوک ۲٦۸مخ، عقد الفرید ۱مخ ۳٦۰مخ، عیون الأخبار د ابن قتیبة کتاب ۲ټوک، ۱٥۰مخ، حیاة هشام بن الحکم د شیخ محمّد حسین مظفر کتاب، جامع الرواة ۲ټوک، ۳۱۳مخ، نهج المقال ۳٥٦مخ، حیاة هشام د شیخ محمّد صالح شیخ راضی کتاب او نور.

د خلکو هدایت به یې کاوه او د اهلبیتو علیهم السلام له مذهبه به یې دفاع کوله او ملحدانو او کافرانو سره به یې مناظرې کولې او ډیر کسان په کې د صحیح اسلام دین ته راغلي وو او د هغه دلیل یې منلې او سریې ورته ایښې و. هغه د امام صادق علیه السلام له شاګردانو و او د هغه د زوي امام کاظم علیه السلام له خاصو اصحابو و.

هشام بن حکم په کوفه کې لوی شو، کوفه په هغه وخت کې د بیلا بیلو نظریو او مختلفو مذهبونو د ټکرې ځای و چې علم کلام له هماغه ځایه خپور شو، او دا ښار د علم ناستو او فکري کسانو د ناستې او د بیلا بیلو مذهبونو او بیلا بیلو نظریو په خپلو کې د بحث مباحثې او مناظرې ځای و. هر یو ټولي به په خپل مقابل باندې د برې لپاره علم کلام زده کاوه او د خپل مذهب تایید به یې ورسره کاوه.

هشام بن حکم د هغه وخت له مشهورو شخصیاتو و د هغه د استدلال توان په هغه وخت کې د عالمانو په نظر کې له هغه یو بیلګه شخصیت جوړ کړی و ځکه چې هم یې مهارت درلود، هم یې دلیلونه او هم یې دښمنان. ابن ندیم هشام دې شان سره ستایې:

هشام بن حکم د شیعو له متکلمانو و، او هغه کس دې چې د امامت په هکله یې اخري حدی کې خبرې کړي او خپل مذهب او نظر یې پاک کړې، هغه د کلام په علم کې ماهر او حاضر ځواب و. له هشامه پوښتنه وشوه چې آیا معاویه د بدر په جنګ کې موجود و؟ ویې ویل هو! خو له بلې خوا، یعنې د مشرکانو له خوا.

او شهرستاني وايي: هشام بن حکم په اصول کې د غور او فکر خاوند و[٢].

او زرکلی وايی: هشام بن حکم فقيه، متکلم، مناظر او د اماميه و مشر له لويانو و، په کوفه کې وزيږيد، يحيی بن خالد سره په اړيکه کې و او د هغه د کلام د ناستو ذمه يې په غاړه اخستې وه[٣].

او ډاکټر احمد امين وايی: داسې ښکاري چې هشام بن حکم د شيعو له لويو کلامي شخصيتونو و، او د امام جعفر صادق عليه السلام له شاګردانو و، هغه په مناظره او دليل کې ډير تکړه و، هغه معتزله و سره مناظرې کړي دي، د ادب په کتابونو کې د هغه ډيرې مناظرې راغلي دي چې د هغه د دليل توان ترې څرګنديږي، تر دې چې وايي: جاحظ د هغه په هکله په غصې سره خبرې کوي او د هغه په هکله ډيرې تيزې نيوکې کوي.او هغه د په هکله به د لويانو نورې خبرې وروسته راشی.

## امام صادق عليه السلام سره د هشام اړيکه

هشام د امام صادق عليه السلام د مدرسې شاګرد و او په حکمت او درايه، عرفان، فقه او حديث کې د هغه له ډيرو ښو شاګردانو وګرځيد. هغه د امام صادق عليه السلام له شاګردۍ وړاندې د جهم بن صفوان

٢. غور د هر څيز ويخ او ژورتيا ته وايی، او د غور خاوند هغه چا تا وايي چې په خپل علم کې ژور وي، تر دې چې حقيقت ته ورسي، ملل و نحل ١ټوک، ٣١١مخ.
٣. الأعلام ٣ټوک، ١١٢٣مخ.

غونډې باورونه لرل[٤]. خو کله چې د وحي په ښار امام صادق علیه السلام ته راغی نو هغه یې پرېښود، کله چې یې د امام تر څنګ راټول شوي کسان، د هغه حضرت شان او هیبت او روحانیت ولید او د خپلو پوښتنو ځوابونه یې له هغه واوریدل او د هغه ښکلې بیان او ښکلي ټکي یې واوریدل نو له ځانه بې ځانه شو او پوه شو چې د امام د مقابلې توان نه لري.

امام صادق علیه السلام هم هغه له وړاندې پیژندلی و او د هغه نامه یې اوریدلې وه هغه حضرت د هغه په لور ورغی چې حقو ته یې وبلي نو له هغه یې هماغه پوښتنې وکړې چې کومو کښې هغه تخصص درلود، او هشام ورته ځوابو ورنه کړی شو او حق یې وپیژندل: «و الحق أحق أن یتبع» او حق د لارویۍ وړتیا لري. هغه د امام صادق علیه السلام په لور راغی او د هغه له خاصو کسانو، د هغه د مدرسې له قابلو کسانو، له مشهورو پوهانو او د فلسفې له اتلانو وګرځید، هغه تل له حق سره و او څرګندو دلیلونو سره به یې دښمن ته ماتې ورکوله. د هغه په حق کې د امام صادق علیه السلام هغه دعا قبوله

---

٤. جهم بن صفوان هغه کس دی چې د فرقة جهمیة نسبت ورته ورکړی شوی دی، د هغه بدعت په ترمذ ښار کې څرګند شو او بیا د امویانو د حکومت په اخره کې سلم بن احوز المازنی هغه په مرو ښار کې مړ کړ، د صفات ازلیه په نفی کې معتزله سره و او ویل یې چې خدای ته د هغه صفتونو نسبت مه ورکوئ کوم چې یې مخلوق ته ورکوئ ځکه چې دا د تشبیه سبب کیږي. نو له دې سبب یې د حیی(ژوندي شوني) او عالم صفتونه له خدای نفی کړل، او د خدای لپاره یې د خالق، فاعل صفتونه ثابت کړل، ځکه چې یو څیز هم فعل او خلق سره نه متصف کیږي د هغه د باورونو د تفصیل لپاره وګورئ: ملل و نحل ۱ټوک، ۱۱۳مخ.

شوه چې فرمایلي یې وو: «یا هشام ما زلت مؤیدا بروح القدس؛ ای هشامه! خدای دې تل روح القدس سره تایید کوي».

هشام ډېر مخلص، مزبوت ایمان لرونکی، سمې عقیدې والا و او د اهلبیتو علیه السلام له مذهبه به یې دفاع کوله. په مذهبی اختلافاتو کې به یې مناظرې کولې او د هغه متکلمانو بحثونه به یې باطلول چې کو اسلامی متکلمان د یونان د فلسفې د اغیز لاندې راغلي وو. هغه به په خپلو ټولو مناظرو کې بري کیده ځکه چې د دلیل ډېر توان او پراخ سوچ یې درلود او له همدې سببه د حکومت له خوا په خطره کې و، لکه څنګه چې نور داسې کسان چې ګرم فکرونه یې لرل د حکومت له خوا په خطره کې وو. هشام د امامت په هکله په مناظرو مشهور و، او تل به د علویانو د ګټې سبب کیده او هغوی د حکومت دښمنان و. هارون رشید د هغه د چارو له پراختیا ویریده نو د هغه د قتل اراده یې وکړه، خو یحیی بن خالد برمکی له هغه دفاع وکړی او خبره یې نرمه کړه، البته بیا د خالد نظر هم وروسته بدل شو او له هغه به یې دفاع نه کوله. یوه ورځ د برمکی په حضور کې د امامت بحث شورو و او هارون هم ورته له پردې شاته غوږ ایښې و، کله چې مناظره تیزه شوه نو هشام بریالی شو، نو هارون رشید په غصه شو او ویې ویل: د هشام ژبه په خلکو کې له زرو تورو زیات اثر لري. خو هارون رشید د اهلبیتو علیهم السلام له دښمنانو و نو هشام یې بدعت جوړونکی ګڼه.

روایت شوی دی چې د صفه حاکم ملک صفد، هارون رشید ته یو لیک ولیکه او د دین زده کړې لپاره یې ترې استاد اوغوښت. هغه یحیی بن خالد راوغوښت او لیک یې هغه ته ورکړ، نو یحیی وویل: دا کار یوازې دوه کسان ترسره کولی شي: هشام بن حکم او ضرار (بن

عمرو چې د معتزله و له عالمانو و)، نو ويې ويل: نه، دا دواړه بدعت ګزار دي او خلک خپلو بدعتونو سره ګمراه کوي، دا کار باید د حدیث څیښتنان وکړي[۵].

هشام د امام صادق علیه السلام د نورو شاګردانو تر څنګ د امام صادق علیه السلام د علمي غورځنګ په پرمختګ کې ډیرو لوی لور درلود. هغه د کلام استاد و او د مناظرې ټول فنونه یې زده وو. که څه هم نږدې وه چې هغه د بې بنسټه عقیدو په دریاب کې لاهو شي خو امام هغه پرې نښود او د امام په مرسته هغه په ټولنه کې یو دینی او فکری لوړ مقام پیدا کړ او همدارنګ د امام به نزد هم د قدر او منزلت وړ شو.

یونس بن یعقوب وایي: زه له امام صادق علیه السلام سره وم چې د شام یو کس راغی او ويې ويل: زه د علم کلام، او فقهې خاوند یم او د دې لپاره راغلی یم چې ستاسو اصحابو سره مناظره وکړم. امام صادق علیه السلام ورته وویل: «کلامک هذا من کلام رسول الله صلّی الله علیه و آله و سلّم أو من عندک؟» ستا دا خبرې د خدای د رسول له خبرو دي که خپلې خبرې دې دي؟ هغه وویل: ځینې د خدای د رسول خبرې دي او ځینې مې له ځانه دي، امام ورته وفرمایل: نو ته هم د خدای رسول سره شریک یې؟ ويې ويل: نه. امام وویل: نو تا ته له خدایه وحي شوې ده؟ ويې ويل: نه، امام وویل: آیا ستا اطاعت هم لکه د رسول الله د اطاعت واجب دی؟ ويې ويل: نه، امام ماته وکتل او ويې فرمایل: «یا یونس بن یعقوب هذا قد خصم نفسه» ای یونس بن یعقوب دې کس له دې وړاندې چې څه ووایي ځان یې وشرماو، بیا

۵. د اصبهانی محاضرات ۱ټوک، ۳۷- ۳۸مخونه.

یې وفرمایل: ای یونسه که علم کلام دې زده وې نو هغه سره به دې خبرې کړې وې. یونس وایي هغه وخت ډېر خپه شوم چې کلام مې نه دی زده، ومې ویل: له تا ځار شم ما له تاسو اوریدلي چې له کلامه مو منعې کړې ده او وایئ: افسوس دې وي د کلام د خاوندانو لپاره چې وایی: دا قبلیږي، هغه نه قبلیږي، دا سم دی هغه سم نه دی، دا عقل سره سمون لري هغه عقل سره سمون نه لري[٦]. نو امام صادق علیه السلام وفرمایل: ما داسې ویلي دي چې افسوس دې وي په هغه کسانو چې زما خبرې یې پریښې دي او په هغه څه پسې روان دي چې کوم یې زړه غواړي.

د روایت په ادامه کې ابن یعقوب ځینې ټکو ته اشاره کوي چې د هشام لوړ مقام ترې څرګندیږي: امام صادق علیه السلام سر له خیمې بهر راوباسه او سترګې یې په اوښ پریوتې او ویې فرمایل: «د کعبې په رب مې دې قسم وي دا هشام دی». مونږ دا ګمان وکړ چې هغه حضرت یو بل هشام یادوي چې کوم د عقیل زوې و او امام ورسره ډېره مینه لرله، خو ومو لیدل چې هشام بن حکم راننوت چې تازه ږیره یې په مخ راغلې وه او مونږ ټول له هغه مشران وو، امام وفرمایل: «دا په زړه، ژبې او لاسو سره زمونږ مرستیال دی». بیا یې حمران بن اعین ته وفرمایل: «شامی کس سره خبرې وکړه» نو حمران ورسره خبرې وکړې او ماتې یې وخوړه، بیا ورسره نورو حاضرو کسانو خبرې وکړې... امام هغه شامي کس ته وویل: «دې ځوان سره خبرې وکړه» یعنې هشام بن حکم سره، هغه وویل: سمه ده. بیا شامي کس هشام ته وویل: ای ځوانه د دې کس (امام صادق علیه السلام) د امامت په هکله له ما پوښتنه وکړه، هشام له ډېرې غصې ولړزید بیا یې وویل:

٦. الکافی، ۱ټوک ۷۱مخ، ٤حدیث.

دا راته ووایه چې ستا خدای د خلکو په مصلحت ښه پوهیږي که هغوي په خپله په خپل مصلحت ښه پوهیږي؟ شامي وویل: بلکې خدای پاک ښه پوهیږي. نو هشام وویل: نو خدای پاک د هغوي د مصحلت لپاره هغوي سره څه کړي دي؟

شامي وویل: هغوی ته یې حکمونه ورکړي دي او روښانه دلیلونه یې هغوي ته بیان کړي دي او په دې لارې کې یې د هغوي ستونزې هوارې کړي دي، هشام وویل: نو هغه دلیل چې یې رالیږلی دی اوس کوم دی؟ شامي وویل: هغه د خدای رسول صلی الله علیه و آله دی. نو هشام ورته وویل: له رسول الله وروسته څوک دی؟ ویې ویل: قرآن او سنت. هشام ورته وویل: آیا قرآن او سنت نن مونږ ته دا ګټه راکوي چې که زمونږ تر مینځ اختلاف شي نو هغه یې ختم کړي؟ شامي وویل: هو.

هشام ورته وویل: نو ما او تا ولې په خپلو کې اختلاف لرو او ته له شامه راغلی یې او دا فکر کوې چې فکر کول صحیح دین دی په داسې حال کې چې په دې باندې اقرار کوې چې دوه کسان سره یوشان فکر نه کوي. شامي په داسې حال کې چې فکر یې کاوه، چپ پاتی شو. امام صادق علیه السلام ورته وفرمایل: «ولې خبرې نه کوې»؟ ویې ویل: که دا ووایم چې اختلاف نه لرو نو دروغ مې ویلي دي او که دا ووایم چې قرآن او سنت زمونږ اختلاف حل کړی دی نو دا هم باطله خبره ده، ځکه دا دواړه بیلا بیل اړخونه او برخې لري. بیا شامي له هشامه څو پوښتنې وکړې او هشام ورته ځوابونه ورکړل او په داسې حال کې له خیمې ووت چې هدایت شوی و.

**د هغه زمانه**

د هشام زمانه د علم کلام لپاره له ټولو ښه زمانه وه ځکه چې د زیاتو فرقو له سببه علم کلام ډیر پیاوړې شو او ټولې منطقي قاعدې یې جوړې شوې او هر خوا ته د مناظرې یو غونډه به ترسره کیده او خلکو به د مناظرو لپاره سفرې کولې، په بیله توګه د امامت په هکله مناظرې زیاتې وې ځکه چې دا هغه اصل و چې خلافت ته یې صحیح طریقې سره شکل ورکاوه چې ورسره په خلکو او هیواد د شریعت په نامه مشري کیده. او همدې بحث یې کولی شو چې د خلافت هغه امر ثابت کړي چې په خلکو یې پیروي کول لازم شي. او هغوي له ځینو چارو منعه کړې شي او خدای مصحلت په هغوي باندې د بنده له مصحلته وړاندې وي.

د بنی امیه و او بنی عباسو حاکمانو به خلک له دې خبرو منعې کولو چې د امامت چې کومه معنا شیعه بیانوي هغه مشهوره نه شي نو خلې یې بندولې او ازادۍ سره د خبرو کولو اجازه یې نه ورکوله او خلک یې ویرې او رعب سره له دې کاره منعې کول.

هشام بن حکم د دې ټولو خبرو باوجود بیا هم خپلو مزبوتو دلیلونو سره د امامت اصول بیانول او د اهلبیتو علیهم السلام امامت به یې ثابتاو.

له دې سببه چې د دولسو امامانو امامت ثابتولو سره د ظالمو حاکمانو خلافت له منځه تله او د هغوي مانۍ ورسره لړزیدی[۷]. او یحی برمکی سره چې په بغداد کې کومه مناظره وشوه نو په عقلونو باندې د هغې

۷. د هشام د ژوند لیک کتاب چې شیخ مظفر لیکلی دی خطی نسخه یې ده.

ډیر عجیبه اثر و. دا ناسته د هشام په مشرۍ کې د هغه د نظر لاندې ترسره شوه. او حق دا دی چې ووایو: هشام د اسلامی نړۍ له مفاخرو دی، هغه خپل ځان د حقو خدمت ته او د اسلام د اصولو حفاظت ته خاص کړی و، هغه د دین د شمنانو خبرې رد کړې او ځینې هغه عقلونه چې د شک او غرور پردې پرې راغلی وې هغه یې ترې وشلوې.

یو ځل ضرار له هشام بن حکم پوښتنه وکړه چې د پیغمبر صلی الله علیه و آله نه بعد په امام باندې څه دلیل دی؟ نو هشام وویل:

اته دلیلونه دي، څلور دلیلونه د هغه نسب ته ګرځي او څلور د هغه ذات ته، اول هغه څلور دلیله چې د هغه نسب ته ګرځي: د هغه قبیله مشهوره وه، له پیژندلې شوې نسله و، کورنۍ یې پیژندلې شوې وه، او له هغه کوره و چې ټولو پیژنده. ځکه که چرې قبیله، قوم، کورنۍ او کور یې معلوم نه وې نو هر قوم او قبیلې کیده شو او له هر ډول خلکو کیدی شو، نو ولې داسې وشو چې هغه له ټولو له مشهورې او پیژندلې شوې قبیلې او کورنۍ وي؟ ځکه چې په دنیا کې یوه قبیله هم د حضرت محمد صلی الله علیه و آله له قبیلې مشهوره او زیاته پیژندلی شوې نه وه. او هغه د عربو قبیله وه او نسل و هغه قبیله چې پیغمبر صلی الله علیه وآله له هغوي وټاکل شو هغه پیغمبر چې په شپه ورځ کې پینځه وخته د هغه نامه له جوماتونو اوریدی شي: أشهد أن لا إله إلّا الله و أن محمّدا رسول الله، او د هغه د اسلام دعوت هر نیک او بد، عالم او جاهل د دنیا په هر کونج کې ورسید، نو امام باید هغه بلونکي سره له یوې قبیلې وي او باید د نبوت له کوره وي چې نسب یې ورسره یو وي او باید پیغمبر صلی الله علیه و آله هغه ټاکلی وي او ویلې یې وي چې په تاسو کې له ټولو زیات

صالح او د دې کار وړ همدا یو کس دی، ځکه که چرې ویې نه ټاکي نو بیا په اهلبیتو کې اختلاف جوړیږي.

او هغه څلور دلیلونه چې د هغه ځان ته ورګرځي: امام باید له ټولو زیات عالم وي، له ټولو زیات سخي وي، له ټولو زیات میړنی وي او د ګناهونو په وړاندې له ټولو زیات متقی او پرهیزګار وي. هغه باید تل د قیامت تر ورځې پورې په هره زمانه کې دا صفتونه ولري.

عبدالله بن یزید اباضی چې هلته ناست و، وویل: ای هشامه ته له کومه دا ګومان کوې چې هغه باید له ټولو خلکو زیات علم ولري؟ هشام وویل: که چرې له ټولو زیات عالم او پوه نه وي نو له دې په امان کې نه دی چې خپل شریعت او احکام بدل کړي، مثلا که په یو کس باندې د لاس پرې کیدو حکم شوی وي هغه ته متروکې ولړوي، یا که یو کس ته د متروکو حکم وي په هغه د غړي پریکیدو حکم جاري کړي. او د دې خبرې دلیل د خدای پاک دا قول دی: «أَ فَمَنْ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ أَحَقُّ أَنْ يُتَّبَعَ أَمَّنْ لا يَهِدِّي إِلَّا أَنْ يُهْدى فَما لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ[۸]؛ ایا څوک چې د حقو هدایت کوي هغه د پیروۍ زیات حقدار دے که هغه څوک چې پخپله لار نه مومي تر څو چې ورته هدایت و نه شي؟ نو بیا په تاسو څه شوي دي؟ څنګه فیصلې کوئ؟ (چې عقل یې نه مني)»

ویې ویل: له کومه دې دا ګمان وکړ چې امام باید له هرې ګناه پاک وي؟

۸. سوره یونس ۳۵.

ويې ويل: که چېرې هغه معصوم نه وي نو له دې په امان کې نه دی چې په هغه ګناهونو کې ښکيل شي چې نور په کې ښکيل شوي دي نو بيا دې ته اړمن دی چې يو بل کس وي چې په هغه حد جاري کړي لکه څه رنګ چې ده دا حق درلود. او دويمه دا که چېرې په خپله ګناه کوي نو کيدې شي د خپل ګانډي، ملګري، خپلوال وغيره ګناه پټه کړي، او د دې خبرې دليل د خدای پاک دا قول دی: إِنِّی جاعِلُکَ لِلنَّاسِ إِماماً قالَ وَ مِنْ ذُرِّيَّتِی قالَ لا يَنالُ عَهْدِی الظَّالِمِينَ[۹]؛ (خداي پاک) وفرمايل: زۀ تا د خلکو لپاره امام ګرځوم (ابراهيم) وويل: "او له اولاده مې هم (امامان او مشران ورګرځوه)" نو ويې فرمايل: "زما عهد (امامت او مشري) ظالمانو ته نه رسي.

ويې ويل: له کومه دې دا ګومان وکړ چې امام بايد له ټولو ميړنی کس وي؟ له دې سببه چې امام د هغوي د جنګ مشر دی چې په جنګ کې خلک هغه ته پناه وړي که چېرې هغه له جنګه وتښتي نو د خدای په غضب اخته کيږي او عقل دا خبره نه مني چې امام دې داسې کس وي چې د خدای به غضب اخته شي او د دې خبرې دليل د خدای پاک دا قول دی: إِذا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفاً فَلا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبارَ[۱۰]؛ اے هغو کسانو چې ايمان مو راوړے دے کله چې (په جنګ کښې) ګڼو کافرانو ته مخامخ شئ نو هغوي ته مه شا کوئ.

ويې ويل: له کومه دې ګومان وکړ چې امام بايد له ټولو سخي کس وي؟ ويې ويل: که چېرې سخي نه وي نو د امامت وړتيا نه لري، ځکه چې خلک د هغه کرم او سخاوت ته اړمن دی چې د هغوي تر مينځ

۹. سوره بقره ۱۲٤.

۱۰. سوره انفال ۱۵.

په برابرۍ سره مالونه تقسیم کړي، او حق حقدار ته ورکړي، او که چرې سخي وي نو د خلکو مالونو ته به یې سترګې نه وي او یو کس ته به په بل باندې ترجیح نه ورکوي. نو امام باید معصوم، میړنی، له ټولو زیات علم لرونکی، او تقوا دار وي[11].

او له دې سببه چې هشام په مناظره، دلیل، حاضر جوابۍ، پوخ ذهنیت کې په هر ځای کې مشهور شوی و نو دښمنان یې هم په آرام نه کښیناستل او هغه ته یې داسې ناروا نسبتونه ورکول چې د هغه شان سره یې سمون نه درلود او نه یې د هغه باور او عقیده سره سمون درلود. د حکومت په مرسته یې د خلکو تر منځ د هغه ځیره بده ښکاره کړه، او داسې د پروپیګنډې په حال کې بیا دلیل هم څه کار نه کوي او خلکو ته هم بیل بیل نه شې ثابتولې چې هشام داسې نه دی. (لکه نن سبا چې ظالم حکومتونه په خپله یو کار وکړي او بیا یې په نورو وروتپی ځکه چې میډیا یې په لاس کې ده).

**د هغه استاذان**

هشام د فقهې حدیث او تفسیر علم له امام صادق علیه السلامه زده کړې و او له هماغه لومړیو وختونو امام سره و او له هغه حضرت یې په مختلفو حکمونو کې ډیر حدیثونه نقل کړي دي.

امام صادق علیه السلام به د هغه ډیر درناوې کاوه او د هغه په نزد یې لوړ مقام درلود. هشام په فقهې کې یو کتاب لري چې شیخ طوسی هغه له ځینې اصحابو نقل کړی دی.

---

۱۱. علل الشرائع ۱ټوک ۲۰٤مخ.

او کله چې امام صادق علیه السلام په شهادت ورسید، نو هشام د امام موسی کاظم علیه السلام له خاصو کسانو وګرځید، له هغه حضرت به یې حدیثونه نقلول او ډیر علم یې ترې زده کړ.

## د هغه شاګردان

لکه څه رنګ چې د روایاتو او فقهي کتابونو کې راغلي دي ډیرو کسانو د هشام شاګردي کړې ده، لکه له هغوي نه یو نضر بن سوید صیرفی کوفی دی چې د امام کاظم علیه السلام له شاګردانو و او په عدالت او رښتونولۍ کې مشهور و.

او بل نشیط بن صالح عجلی د هشام له شاګردانو دی چې شیخ په خپل رجال کې هغه د امام صادق او امام کاظم علیهما السلام له شاګردانو ګڼلی دی، او بل یونس بن عبد الرّحمن، هغه هم د امام کاظم او امام رضا علیهما السلام له شاګردانو و. هغه ډیر کتابونه لري هغه ثقه او د لوړې مرتبې خاوند و نور هم ډیر کسان د هشام له شاګردانو وو چې دلته یې د بیان ځای نشته.

## د هغه کتابونه

هشام په بیلا بیلو علمونو کې ډیر کتابونه لري، ابن ندیم له هغو ځیني بیان کړي دي:

١. کتاب الإمامة.
٢. کتاب الدلالات على حدوث الأشياء.
٣. کتاب الرد على الزنادقة.
٤. کتاب الرد على أصحاب الاثنين.
٥. کتاب الرد على هشام الجواليقى.
٦. کتاب الرد على أصحاب الطبائع.
٧. کتاب الشيخ و الغلام.
٨. کتاب التدبير.
٩. کتاب الميزان.
١٠. کتاب الرد على من قال بإمامة المفضول.
١١. کتاب اختلاف الناس فى الإمامة.
١٢. کتاب الوصية و الرد على من أنكرها.
١٣. کتاب فى الجبر و القدر.
١٤. کتاب الحکمين.
١٥. کتاب الرد على المعتزلة فى طلحة و الزبير.
١٦. کتاب القدر.
١٧. کتاب الألفاظ.

د هغه مناظرې

هشام د اهلبيتو عليهم السلام په مدرسه کې خپلې زده کړې ترسره کړې او د علم تنده يې هلته خړوب شوه، او د عالمانو تر منځ يې يو بيلګه شخصيت څرګند شو، هغه تل د اهلبيتو عليهم السلام د مذهب په دفاع کې مشغول و او ټولې سختۍ يې په ځان واخستې. د هغه

وخت ډیرو عالمانو هغه پیژندلی و او هغه سره د مناظرې لپاره به له لرې لرې راتلل او هشام به هم د مناظرو لپاره مشهورو عالمانو ته ورته او په بیلا بیلو علمونو کې به یې د حق د څرګندولو په غرض او د باطل د لرې کولو په غرض به یې ورسره مناظرې کولې.

د هشام د بیان توان او حاضر ځوابۍ او علم قدرت ته په پام، هغه به د هغه مناظرو مشرې په غاړه اخستې کومې چې به یحی بن خالد برمکی د نظر لاندې تسره کیدې. د هرې جمعې په ماځیګر به د بیلا بیلو فرقو عالمان او د نظر خاوندان راغونډیدل او بحثونه به یې کول او تر هغه به له بحثه نه وتل چې هشام راغلی او د هغه خبره به اخري او عدالت سره سمه خبره وه.

یوه ورځ یو کس چې غوښتل یې د هارون الرشید په زړه کې د هشام کینه واچوي له هشام ځینې پوښتنې وکړې او هشام ته دا معلومه نه وه چې هارون له پردې شاته حاضر دی، نو هغه کس د عباس او علی علیه السلام تر مینځ د پیغمبر(ص) په میراث باندې د جنګ خبرې وپوښتلی.

پوښتنه کوونکي وویل: ای ابا محمد (د هشام کنیت دی) آیا تا ته دا پته شته چې علی علیه السلام عباس سره خپله شخړه ابوبکر ته وړاندې کړه؟

هشام وویل: هو.

سړي وویل: په هغو کې کوم یو کس بل سره ظلم کړی و؟

دغه ځای کې هشام چپ شو او زړه کې يې وويل: که ورته ووايم چې عباس ظلم کړی و نو هارون خپه کيږي او له هغه په امان کې نه يم او که ووايم چې علی نو د خپلې عقيدې سره خلاف ويلي دي. نو له همدې سببه يې وويل: په هغوی کې يو هم ظالم نه و.

سړي وويل: دوه کسان يو بل سره شخړه کوي او يو هم په کې په حقه نه وی؟

هشام ورته وويل: هو! دوه فرښتې حضرت داود عليه السلام ته راغلی او له يو بله يې شکايت وکړ. په هغو کې يوه هم ظالمه نه وه. بلکه غوښتل يې چې داود عليه السلام ته يوه خبره ورياده کړي، نو دې دواړو هم خپله شخړه ابوبکر ته وړاندې کړه چې هغه ته د خپل ظلم يادونه وکړي.

هغه کس چپ شو[۱۲]. د هارون هم دا ځواب خوښ شو او زړه يې له هشامه خوشحال شو.

هغه په ډيرو ځايونو کې داسې ځوابونه ورکړي دي او داسې خبرې يې کړي دي چې مقابل کس يې غلی کړی دی. ابن نديم له دې وروسته چې د هغه د دليل توان او د فکر پراختيا بيانوي وايی: هشام به ويل: ما د خپلو مخالفانو غوندې هيڅوک نه دي ليدلي، هغه کس چې د خدای خوښ و (يعنی علی بن ابی طالب) هغه يې پريښی دی او هغه کس يې مشر کړی دی چې خدای پريښی و (يعنی ابوبکر) هشام هغه کيسې ته اشاره کوي چې د برائت سورت چې کله نازل

۱۲. عقد فريد ۱ټوک ۳۶۰مخ، د ابن قتيبة کتاب عيون الأخبار ۲ټوک، ۱۵۰مخ. او ضحی الإسلام ۳ ټوک، ۲۶۸مخ.

شو نو ابوبکر د دې سورت له ابلاغه سرغړونه وکړه او جبرائیل د خدای رسول ته وفرمایل: «لا یؤدیها عنک إلّا أنت أو رجل منک» یواځې ته یا هغه کس چې له تا وي دا سورت دې ستا له خوا ابلاغ کړي. نو دې خبرې سره یې ابوبکر رد کړی او علی علیه السلام یې ټاکلی دی[۱۳].

ابن هشام ډېرې زیاتې مناظرې او جوابونه لري چې ځینې یې تاریخ لیکلي دي او د هشام د شخصیت د ښې پیژندګلو لپاره د هغه مناظرو بیانول دي خو مونږ دلته د هغه ټولې مناظرې نه شو بیانولی نو څوک ناظرې به یې د بیلګې په طور بیان کړو:

۱. اباضیه سره مناظره
۲. د برهمنو یو کس سره مناظره
۳. د خلکو امام ته د ضرورت په هکله مناظره
٤. د شام خلکو سره په بیلا بیلو ناستو کې بیلا بیلې مناظرې
۵. د علی علیه السلام د خلافت حق د لرلو په هکله یوه مناظره
٦. د علی علیه السلام په ټولو امت باندې د لوړاوي په هکله مناظره او دا چې د «ثانی اثنین» آیت سره دلیل صحیح نه دی.
۷. علی علیه السلام سره د مینې د فرضیدو په هکله مناظره
۸. د حقو د امام د پیروي لازمیدو په هکله مناظره
۹. ابی شاکر دیصانی سره مناظره
۱۰. جاثلیق سره مناظره
۱۱. د دوه پرستۍ په نفی کولو کې مناظره
۱۲. بان ابی العوجاء سره مناظره.

---

۱۳. د ابن ندیم د فهرست تکمله ۷مخ.

۱۳. ابو حنیفه سره په بیلا بیلو ځایونو کې مناظرې.
۱٤. ابراهیم بن یسار معتزلی سره مناظره
۱۵. ابی الهذیل اعلاف سره مناظره

او نورې ډیرې مناظرې چې په تاریخي او ادبي کتابونو کې راغلي دي.

**د هغه ځینې مناظرې**

د هشام مناظرې د کلام په باب کې ملحدینو او زندیقانو سره ترسره شوي دي او تاریخ لیکوالان ټول یوه خله دي چې هغه په مناظرې کې حاضر ځوابه او تل بریالی و. له همدې سببه د هغه ځینې مناظرې دلته وړاندې کیږي:

۱. هغه ته یو ملحد کس راغی او ورته یې وویل: زه د دوو خدایانو منونکی یم او دا راته پته ده چې ته انصافدار او ستا له خبرو ویره نه لرم.

هشام -یه داسې حال کې چې یوه جامه یې خپروله- ورته وویل: خدای دې تا خوندي وساتي، ایا ستا په دې دوو خدایانو کې یو کس بې د بل له مرستې یو څیز جوړولی شي؟

ویې ویل: هو.

هاشم وویل: نه بل ته څه ضرورت دی چې کله یو کس هر څه پیدا کولی شي نو هم هغه ستا لپاره غوره دی.

ویې ویل: له تا وړاندې یو کس هم ماته داسې خبره نه ده کړې.

۲. مؤبذ هشام بن حکم ته ورغی او ویې ویل: ای هشامه له دنیا نه ګیر چاپیر څه دي؟

ویې ویل: څه نشته.

سړي وویل: که چرې لاس نه دنیا بهر کړم نو بیا څه شته؟

ویې ویل: هلته څه نشته چې ستا لاس راستون کړي او یا دې ورته لاس ورسي.

ویې ویل: له کومه پوه شم؟

ویې ویل: ای موبده! زه او ته د نړۍ یوې خوا ته یو، ما تا ته وویل: ای موبده زه کوم څه نه وینم. تا ماته وویل: ته ولې څه نه وینې؟ ما درته وویل: دلته کومه تیاره نشته چې له کتلو مې منعی کړي. تا راته وویل: زه هم کوم څه نه وینم، درته مې وویل: ته ولې کوم څه نه وینې؟ دلته کومه روښنایی نشته چې ویې وینم. آیا زما او ستا نظرونو په خپلو کې ټکره لري؟

موبذ وویل: هو.

هشام وویل: که چرې خپلو کې ټکره لري نو بیا په دې کې چې «کوم څه نشته» په باطل شونې کې ولې ټکره نه لري. نو موبذ خپل لاس سره اشاره وکړه. سمه ده خو بیا په خبرو شو، ویې ویل: هغه دواړه په قوه (د فعل په مقابله) سره برابر دي.

هشام وویل: نو د دواړو جوهر یو دی؟

موبذ په لوړ غږ ځان سره وویل: که ووایم چې جوهر یې یو دی نو بیا دواړه یو صفت لري. او که ووایم چې یو نه دي نو دواړه به په ارادې کې هم بدل وي او په خلقت کې به سره یو نه وي، که یو د اوږد اراده وکړي نو بل به د لنډ.... او کله چې له ځوابه پاتې شو نو هشام ورته مخ کړ او ویې ویل: ولې نه تسلیمیږې؟

ویې ویل: هیهات! (یعنې له تسلیمیدو ډېر لرې یم).[۱٤]

۳. هشام ابی هذیل[۱۵] ته وویل: ته چې دا ګمان کړې چې حرکت لیدی شي نو دا ولې ګمان نه کوې چې حرکت لاس سره محسوس کړی؟ ویې ویل: ځکه چې حرکت جسم نه دی چې لاس سره محسوس شي، ځکه چې لاس سره حس کول د جسم خاصه ده. هشام ورته وویل: نو داسې ووایه چې ځکه نه شي لیدی چې جسم نه لري.

ابوهذیل ترې بیا پوښتنه وکړه: تا دا له کومه وویل چې صفت نه موصوف دی او نه د موصوف غیر دی؟

هشام وویل: له دې ځایه چې دا محاله ده چې زما کارونه زه وي او دا هم محاله ده چې له پرته بل څه وي ځکه چې کوم تغایر او بدلون راځي هغه په اجسام او اعیانو کې راځي چې هغه په خپله وجود لري، خو کله چې زما کار په ما پورې تړلی دی او په خپله نه شي راتلی

---

۱٤. عیون الاخبار ۵ټوک، ۱۵۲مخ.

۱۵ . هغه محمّد بن هذیل بن عبد الله بن مکحول بصری، أبو هذیل علاف وفات کال ۲۳۵ هجری، د معتزله و مشر او ملا او مناظره کوونکی و له عثمان بن خالد طویل یې د اعتزاله مذهب زده کړ، او هغه نظریې او قولونه لري او په معتزله کې یوه فرقه هذیلیه ده چې نسبت هغه ته ورکړې شوی دی.

نو زما فعل او کار نه زما ځان دی او نه زما غیر. او دویم دلیل چې ته باوري یې چې حرکت نه مماسه دی او نه مباینه، له دې سببه چې حرکت ستا په نزد حرکت نه مماسه دی او نه مباینه، نو زه دا وایم چې صفت نه «زه» یم او نه زما غیر دی. له دې سببه چې زما دلیل هماغه ستا دلیل دی چې وایې حرکت نه لمس کیږي او نه تباین لري. مسعودي وایي کله چې هذیل دا خبرې واوریدې نو لاړ او بیا یې هیڅ ونه ویل[۱۶].

دا مناظره مې په دې غرض نه ده بیان کړی چې د هشام بن حکم ستاینه وکړم بلکې په دې غرض مې راوړې ده چې ابن حجر عسقلانی چې تاریخ سره کوم زیاتې کړی او حقیقتونه یې پټ کړي څرګند کړم، د ابن حجر عبارت[۱۷] نیغ په نیغه دلته راوړم چې لوستونکی په خپله پریکړه وکړي.

«مسعودي وایی: ابولحسن حناط وایي: ابو هذیل په ۲۲۷هجری کال کې مړ شو د هغه ملګري د هغه د زوکړې په هکله اختلاف لري، ځینې وایي چې په ۳۱سپوږمیز کال کې او ځینې وایي ۳٤سپوږمیز کال کې وزیږید. مسعودي وایي: د هغه او د هشام بن حکم رافضی تر مینځ یوه مناظره وشوه او ابو هذیل هشام ته ماتی ورکړه».

د ابن حجر عسقلانی عبارت ستاسو تر وړاندې دی نو لوستونکی دې په خپله پریکړه وکړي.

---

۱٦. مروج الذهب ٤ټوک ٥٤مخ.

۱۷. لسان المیزان ٥ټوک ۲۱٤مخ.

٤. هشام بصرې ته په سفر کې عمرو بن عبید وفات کال ١٤٤ هجري سره ملاقات وکړ او د امامت په هکله یې ورسره مناظره وکړه، عمرو به دا ویل چې امامت په هره زمانه کې د امت په اختیار کې دی چې څوک ځانته امام وګرځوي، او هشام ویل چې امامت باید د خدای او د هغه د رسول له خوا په نص سره وي چې علی بن ابی طالب علیه السلام او له هغه وروسته یوولس امامان دي.

هشام عمرو بن عبید ته وویل: آیا خدای تا ته دوه سترګې نه دي درکړي؟

ویې ویل: هو!

هشام وویل: د څه لپاره؟

ویې ویل: د دې لپاره چې ورسره ځمکه آسمانونه وګورم او عبرت واخلم.

هشام وویل: د اوریدو توان د څه لپاره درکړی؟

ویې ویل: د دې لپاره چې حلال او حرام او امر او نهی ورسره واورم.

هشام وویل: خله یې د څه لپاره درکړې ده؟

ویې ویل: د دې لپاره چې خواړه ورسره وخکم، او خبرې وکړم.

بیا ورته هشام یو یو ځیز وګڼه او پوښتنه یې ترې وکړې چې دا خدای د څه لپاره درکړي تر دې چې پوښتنه یې ترې وکړه: زړه (عقل) یې د څه لپاره درکړی دی؟

ویې ویل: د دې لپاره چې حواس کوم څه کوي په هغې پوه شي او د ګټې او توان تر مینځ فرق وکړي.

هشام وویل: آیا دا به صحیح وه چې خدای تا ته ټول حواس درکړی وې خو زړه یې نه وې درکړې چې ښه او بد ورسره جلا کړې؟

عمرو وویل: نه.

هشام وویل: ولی؟

ویې ویل: له دې سببه چې زړه ښه او بد سره جلا کوي او پیژني.

هشام وویل: ای ابا مروانه (د عمرو کنیت و) خدای پاک ستا دا حواس بې له امامه نه دي پریښې او یو زړه ورته جوړ کړی چې ښه له بده جلا کړي نو آیا خدای داسې کولی شي چې خپل مخلوق بې له امامه پریږدي؟

مسعودي وایي عمرو حیران پاتی شو او ځواب یې نه درلود.[۱۸]

۱۸. مروج الذهب ٤ټوک ٥٥مخ، علل الشرائع ١٩٤مخ، طبرسی ۲۰۰مخ، أمالی مرتضی او نور....

**هشام او ناروا تهمتونه**

علم کلام د عباسیانو د حکومت په لومړۍ دوره کې پرمختړ وکړ، مناظرې او اختلافات او علمي بحثونه زیات شول او مناظرې به د خلفاو په ناستو او په جوماتونو او سړکونو کې کیدې.

معتزله په دغه وخت کې ډیر کلامی کار کاو او مهمې مسلې به یې څیړلې او خپلو مخالفانو سره به یې ښه توده بحثونه کول.

له بلې خوا ګورو چې په داسې مسلو هم بوخت وو چې کوم علمي ارزښت یې نه درلود او سفسطي بحثونه وو. مثلا پوښتنه به یې کوله: آیا خدای دا توان لري چې ظلم وکړي که نه؟ آیا جنت له اوسه پیدا شوی دی که نه؟ آیا خدای پاک په محال شي قدرت او توان لري که نه؟ آیا کافر د ایمان توان لري او مومن د کفر توان لري که نه؟ او داسې ډیرې مسلې. او همدارنګ د امامت او سیاست په مسلو کې د هغوي اختلاف و او دا ټول بحثونه د دې سبب شو چې یو بد علمي ماحول او چاپیریال یې جوړ کړی و او بې فایدې علمی بحثونه هم ډیر وو.

هشام بن حکم له هغه کسانو و چې هغوي سره یې ډیره دښمني لرله او سختې مناظرې به یې ورسره کولې او ماتې به یې ورکوله ځکه چې ډیر پاخه دلیلونه او ډیر پراخ سوچ یې درلود. او د کلام په علم کې مشهور و، له همدې سببه به یې د بغداد د مناظرو د ناستو مشري کوله او د بیلا بیلو فرقو له مشرانو سره به یې بحثونه کول او ماتې به یې ورکوله او همدې خبرو د هغه د دښمنانو په زړونو کې د هغه کینه زیاته کړې وه. نو هغوي روسره دښمني کوله او وربانديې یې

ناروا تهمتونه لږول. جاحظ له هغه کسانو و چې هشام سره یې ډېره دښمني لرله نو هغه به یې د ناوړه خبرو نسبت ورکاو، نظام ابراهیم بن یسار هم د هغه له دښمنانو و، ابن قتیبه په «متلف الحدیث» کتاب کې د جاحظ او نظام تهمتونه لږول منلي شوي ګڼلي او همدارنګ خیاط معتزلی هم و لکه څه رنګ چې په «انتصار» کتاب کې راغلي دي.

او دا کومه پټه خبره نه ده چې ورباندې پوه شو چې د دې تهمتونو اصلي سبب همدا و چې د هغه څیره بدرنګه کړي او د هغه د خبرو اثر له منځه یوسي، داسې تهمتونه او تورونه چې هیڅ کوم مدرک او سرچینه نه لري یواځې د خپل شیطانی نفس په خبره پسې لاړ شي او کینه ولري. څکه چې هغه به تل په دلیل سره په هغوي بري کیده نو د غږ اخستلو په غرض یې دا تهمتونه او تورونه راوړي دي.

له څه رنګ چې هشام سره داسې کار وشو همدارنګ هغه ټولې چې حقیقت پسې و او د فکر خاوند و به هغه وخت کې داسې چارو سره مخامخ شو او په ځای د دې چې هغوي ته منطقی او صحیح ځواب ورکړی شي په هغوي باندې تورونه او تهمتونه ولږولی شو او دښمنې رامنځته شوې او فرقې فرقې زیاتې شوې او په خپلو کې بحثونه د علم، عقل او منطق له حده ووتل او په دښمنۍ بدل شول، البته د حکومت د سیاست په دې کار کې پوره پوره لاس و او حکومت دا قاعده خپله کړې وې «خلک په خپلو کې وویشه او ورباندې حکومت وکړه» هم امویانو دا لار خپله کړې وه او ورپسې عباسیانو هم دا کار وکړ، نو له دغه اختلافاتو یې د سپرلۍ کار واخست.

مونږ ته دا څرګنده شوه چې په دوي کې له ټولو زياته دښمني شيعو سره وه، او دښمني له منطقی حده ووته او د شيعو په خلاف باطلې او بې ځايه خبرې او پروپيګندې حد ته ورسيده. او دا ټول کارونه د دې لپاره وو چې د شيعو اصلي څيره پټه کړي او بدرنګه څيره يې وړاندې کړي او د خلکو په زړونو کې د شيعو له عقايدو نفرت پيدا کړي ځکه چې دښمنانو هغوي سره نيغ په نيغه په بحث کې مقابله نه شوه کولی خصوصا د امامت په بحث کې.

دغه ځای کې مونږ ځينې هغه تهمتونه او تورونه راوړو چې په شيعو باندې او په بيله توګه په هشام باندې يې لږولي دي.

مونږ نه غواړو چې ټول تهمتونه دلته راغونډ کړو او دلته يې رد کړو ځکه چې د دغه تهمونو رد څرګند دی، او د هشام شخصيت او علمی مقام دومره څرګند دی چې د دښمنانو دغه تورونه ورته ضرر نه شي رسولې. له هغو ځينې تهمتونه دا دي:

۱. عبدالقاهر بغدادي وفات کال ٤٢٩هجري د مشبهه مذهبونو په بيان کې وايي:

له دغو ډلو يوه ډله هشاميه وه چې هشام بن حکم رافضی ته يې نسبت ورکړی شوی دی، هغه کس چې خپل رب يې د انسان په څير وګڼه او دا ګمان يې کاوه چې خدای د هغه د ليشت مطابق اووه ليشتې دی او خدای جسم لري او محدود دی او هغه طول او عرض

او عمق لري او رنګ او خوند او بوی لري او هغه دا باور درلود چې خدای پاک د سپینو زرو د ځښتې په شان ګول دی.[۱۹]

دا هغه خبرې دي چې د الفرق بین الفرق لیکوال یې کوي او دا خبرې هیڅ حقیقت نه لري. هشام ډیر کتابونه او مناظرې لري چې په هغو کې یې په خدای باندې خپل ایمان بیان کړی او د هغه التوحید وغیره کتابونه چې د ملحدینو په ځواب کې یې لیکلي دي هغه د هغه خبرو تصدیق کوي چې کومې مونږ کوو او د هغه خبرو دروغ څرګندوي کومې چې بغدادي کوي او څرګندوي چې بغدادي په کومه لاره تللی دی هغه هیڅ کوم حق سند او مدرک نه لري بلکې یوازې د کینې او حسد له مخې یې دا تهمتونه لږولي او دروغ یې تړلي دي، که مونږ د دې دروغو علت او سبب ولټوو نو پوهیږو چې دا د معتزله کار دی، معتزله د هغه دښمنان وو ځکه چې د هغه ورسره سخته دښمني وه او د هغوي خبرې به یې په اسانۍ سره ردلولی. مونږ به د معتزله و د مشر جاحظ په هکله هم خبرې وکړو چې څه رنګ یې د هشام په خلاف له غصې او کینې ډله لار خپله کړې ده. په هشام باندې د جاحظ له خوا دا تهمتونه د هغه د ادبی لیکلو نتیجه ده.

۲. محمّد بن أحمد بن عبد الرّحمن ملطی شافعی وفات کال ۳۷۷ هجري په خپله کتاب التنبیه کې لیکي:

«د شیعو دولسمه فرقه هغه د هشام بن حکم اصحاب دی، چې هشامیه ورته ویل کیږي، هغه رافضیان دي چې دین یې پریښی دی او دا ګمان کوي چې د علی رضی الله عنه مینه یې راخستې ده. دا د

---

۱۹. الفرق بین الفرق ۱۳۹مخ.

خدای او د رسول او د اصحابو دښمنان دروغ وايي، څکه چې علی سره هغه څوک مینه کوي چې نورو سره هم مینه ولري. او د دې فرقې کسان ملحدان دي څکه چې هشام ملحد دهري و. بیا دهریه او مانویه شو، بیا وروباندې اسلام غالب شو نو په مات زړه مسلمان شو، خو په اسلام کې هم د تشبیه او رفض قایل شو. د امامت په هکله د هغه نظریې باندې نه یو خبر چې چا د علی ته د هشام غوندې د عیبونو نسبت ورکړی دی... او له خدایه شکر کوو چې علی او د هغه ځامن له نجاست او گناه لری دي او خدای هغوي پاک او طاهر گرځولي دي، هشام نه شیعه و او نه یې په زړه کې د اهلبیتو محبت درلود بلکې هشام دې خبرو سره غوښتل چې اسلام او توحید او نبوت له منځه یوسي».

دا د ملطی خبرې وې خو که له هغه پوښتنه وکړو چې شیخ صیب د دې خبرو دلیل دې څه دی او د هشام په هکله دا معلومات له کومه بیانوې او د دغې تهمتونو مدرک دې څه دی او د هشام د الحاد خبره له کوم کتابه کوې؟ نو هیڅ ځواب نه لري او نه کوم د باور وړ مدرک لري. د دې ټولو خبرو سره سم هغه د هشام هغه خبرې هم نقلوي چې د امام علی علیه السلام د افضلیت او امامت په هکله یې کړې دي چې پیغمبر(ص) په خپل ژوند کې امام علی علیه السلام په امامت منصوب کړی و دلته د ملطی هغه عبارت راوړو، هغه لیکي: «هشام دا گمان کړی دی چې پیغمبر(ص) په خپل ژوند کې د علی علیه السلام د امامت اعلان کړی دی او فرمایلي یې دي: «من کنت مولاه فعلی مولاه؛د چا چې زه مولا یم د هغه ته مولا یې». او دې قول سره: «أنت منی بمنزلة هارون من موسی، إلّا أنّه لا نبی بعدی؛ ستا منزلت له ما وروسته داسې دی لکه هارون چې موسی سره و خو زما نه پس نبی نشته» او دې قول سره: «أنا مدینة العلم و علی بابها، زه د علم ښار

یم او علی یې ور دی» او دې قول سره: «تقاتل علی تأویل القرآن کما قاتلت علی تنزیله؛ ته به د قرآن په تاویل باندې جنګ کوې لکه څه رنګ چې ما د قرآن په تنزیل باندې جنګ وکړ» او علی علیه السلام د پیغمبر(ص) وصی او په امت او کورنۍ کې د هغه خلیفه دی او هغه د امت له ټولو افضل او له ټولو زیات علم لرونکی دی او د هغه لپاره غلطی، غفلت او عجز جایز نه دي او هغه له ګناهونو پاک او معصوم دی، او خدای پاک هغه د خلکو لپاره امام ګرځولی دی که څه هم ځینې یې ونه پیژني، او خدای لکه څه رنګ قبله ټاکلی او نورې فریضې یې ټاکلي دي همدارنګ یې هغه په امامت ټاکلی دی... تر پایی».

دا هغه خبرې دي چې ملطی ترې دا نتیجه اخستې ده چې هشام شیعه دی نو هشام بن حکم د دې شیخ په نظر کې د اسلام دښمن دی، او ملحد او غیر مومن دی، ځکه چې هغه امامت نص سره مني او دا وایي چې علی علیه السلام په امت باندې د رسول الله خلیفه دی.

خو مونږ دا شیخ په دغې ګډو وډو دروغو خبرو نه ملامته کوو خو هغه کس ملامته کوو چې د هغه په دغه بی ځایه خبرو باندې باور کوي او امت ته یې د هدایت سبب ګڼي. له دومره کلونو وروسته یې د هغه د کتاب مړه تنه بیا له قبره راوباسله او چاپ یې کړه[۲۰]. زمونږ وخت له دې ډیر ارزښتمن دی چې د هغه په دې بې ځایه خبرو یې خراب کړو او د هغه دغه دښمني خدای ته سپارم.

---

۲۰. په مصر کې د نشر الثقافة الإسلامیة مشر عزة العطار، دا کتاب د محمد زاهد کوثری لمن لیک سره بیا ځلې چاپ کړی دی.

۳. ابن حجر وايي: «هشام بن حکم أبو محمّد شيبانی د کوفی و هغه د رافضيانو له مشرانو و، هغه مجسمه و يعنی باور يې درلود چې خدای جسم لري او د هغه په ليشت اووه ليشتې اوږدوالی لري. او دا باور هم لري چې د خدای علم محدث دی. دا د ابن حزم خبرې دي»[21]. دا د هغه بې دليله او بې مدرکه خبرې دي، البته د ابن حزم عادت همداسې دی چې په خپل دښمن بې دليله تور لګوي. او دا خبرې ټولې له هغه تعصبه راوځي چې هشام سره يې درلود. او که ځيرنه وکړو نو دا راته معلوميږي چې د هشام په هکله داسې خبرې د هغه د اصلي دښمن جاحظ دي او دا خو څرګنده ده چې جاحظ به خپلو دښمنانو سره ډيره په ناوړه طريقه خبرې کولې او تل به يې د معتزله ملاتړ او دفاع کوله. او هشام د هغوي پوخ دښمن و او ورسره به يې مناظرې کولې او تل به بر کيده.

ګورو چې جاحظ علمي بحثونو ته علمي ځوابونه نه ورکوي او علمی بحثونه خپلو نيوکو سره راوړي او بې له کوم علمي دليله يې رد کوي او کله چې غواړي د يو کس بد انځور وړاندې کړي نو هغه کس دومره د لوستونکی په ذهن کې بدرنګوي چې د انسان زړه د هغه کس لپاره له بغض او کينې ډکيږي.

هغه چې کله په هشام باندې بريد کوي نو د منطقی بحث په ځای هغه مسخره کوي او وايی: هشام خدای مجسم ګڼی او خپل خدای اووه لويشتې ګڼي چې اوږد والي او پلنوالې يې سره سم دی، د هشام تر اخري تهمتونو پورې ټولې خبرې يې کوم علمي بحث نه لري يواځې تهمتونه او مسخره ده. او د دې خبرو رد کول کومه سخته خبره نه ده

21. لسان الميزان ۶ټوک، ۱۹۴مخ.

په بیله توګه کله چې مونږ د جاحظ هشام سره له دښمنۍ خبر شو نو د جاحظ د خبرو دلیل راته څرګندیږي.

دې ته په پام چې په هشام باندې د ټولو تهمتونو سرچینه جاحظ دی چې کوم هشام سره د مقابله اصل کس دی او په بیله کتابونو کې خبرې له هغه نقل شوي دي نو باید پرتله یې کړو چې د تهمتونو حقیقت یې معلوم شي، ځکه چې هغه ادب کې یو لوړ مقام درلود او له دغه مقامه یې د هشام د مقابلې لپاره غلطه ګټه واخسته.

**جاحظ د حقیقت په تله کې**

د هغه نامه عمرو بن بحر بن محبوب کنانی په جاحظ مشهور و وفات کال یې ۲۵۰هجري یا ۲۵۵ هجري دی، هغه د نظام شاګرد و، او هغه د معتزله و مشر او متکلم و او ډیر زیات مشهور و، جاحظ په بیلا بیلو علمونو او فنونو کې کتابونه لري، هغه حاکمانو، والیانو او خلیفه ګانو سره تړلی کس و، هغه به خپلو کتابونو او لیکنو سره ځان هغو حاکمانو ته نزدې کاوه او د هغوي د خوشحالۍ لپاره به یې د هغه د مذهب په ثابتولو کې کتابونه لیکل او هغوي ته به یې ډالۍ کول چې د هغوي له خوا ډالۍ او انعام ترلاسه کړي. د هغه د علم په هکله خبرې نه کوو خو غواړو چې دا معلومه کړو چې هغه په حقیقت کې حقو پسې و که نه؟ او آیا حقیقت کې هغه ورک علم پسې و چې تجربې، قلم، فکر او دلیل سره ورته ورسیږي که نه بل کوم غرض یې درلود؟ که چرې هغه په یوه نیغه لار روان وې نو بیا د هغه په خبرو کې دومره ټکره ولې ده؟ په خپلو کتابونو کې مزبوتو دلیلونو سره یوه خبره ثابته وي او څو مخه وروسته یې بیا نفی کوي

او اوړیدونکی راوړیدونکی شخصیت لري چې عقیده یې بدلیږ رابدلیږي.

د دې لپاره چې نور هم راته د هغه شخصیت څرګند شي باید د علم رجال له خاوندانو پوښتنه وکړي چې هغوي څنګه ستایلی دی؟ او له هغه یې څه نقل کړي دي؟

أبو جعفر إسکافی، چې د معتزلة و له مشرو عالمانو دی وایي:

د جاحظ ژبه او عقل کوم خاص نیغه او بیلګه لاره نه لري او د هغه له خوا د دروغو هر ډول دعوا لرې نه ده، د هغه خبرې پوچې دي، بیان یې لهو لعب او بې فایدې دی، هغه یوه خبره کړې او بیا یې د هماغه خبرې مخالف خبره هم کړی، د یو چا قول یې ښه ګڼلی او بیا یې د هغه مخالف قول هم ښه ګڼلی، هغه کوم ویخ وجدان نه لري چې نصیحت یې کړي او نه یې دعوې کومې پولې لري.[۲۲]

ابن أبی دؤاد وایي: جاحظ ډیر ښه ذوق لري خو د هغه په دینداری باور نشته[۲۳].

ذهبي وایي: جاحظ بدعت ګزار و[۲٤].

۲۲. شرح النهج ۳ټوک، ۲٦۷ مخ.
۲۳. تاریخ بغداد ۱۲ټوک، ۲۱۸ مخ.
۲٤. میزان الاعتدال، ۵ ټوک، ۶۳۳۹/۳۰۰مخ،

ثعلب وايي: جاحظ رښتونی نه دی او خدای او رسول او خلکو پورې يې دروغ تړلي دي.[۲۵]

خطيب وايي: هغه به لمونځ نه کاوه.[۲٦]

او سکندري وايي: حاحظ عثماني مذهبه و او عثمان به يې له علی عليه السلام لوړ ګڼه.[۲۷]

قتيبه وايي: هغه اخرنې متکلم و او په دليل راوړلو کې له ټولو ښه و او په وينا کې دومره مزبوت و چې خپلو خبرو سره به يې وړکې څيز غټ څرګندو او غټ به يې وړوکی، هغه به يو څيز يو ځای کې ثابت کړ او بل ځای کې به يې رد کړ، کله به يې د عثمانيانو په ګټه او د رافضه په خلاف دليل راوړ او کله به يې زيديه په عثمانيانو او اهل سنتو اوچت کړل، کله به يې علی رضی الله عنه وړاندې کړ او کله به يې وروسته کړ، هغه يو کتاب ليکلی چې د مسلمانانو په رد کې د عسايانو دليلونه يې په کې راوړي دي او کله چې د مسلمانانو د ثابتولو د عسايانو د ردولو نمبر راغلی دی نو کمزوري او سست دليلونه يې راوړي دي، لکه چې څه يې زده وو هغه يې هغوي ته ته وريادول او مسلمانان يې په شک کې اچول. په ډيرو ليکلو کې يې بې له ګپ شپ بل کوم غرض نشته او دا هڅه او کوښښ يې کړی چې ځوانان او شرابيان له ځانه متاثر کړي او لکه څه رنګ چې مشران وايي په حديثونو پسې به يې ټوقې کولی، نو په ټول کې ويلې شو چې هغه

۲۵. لسان الميزان، ټوک، ٤٠٨/٦٣٠١.
۲٦. تاريخ آداب اللغه، ۸۴مخ.
۲۷. تاريخ آداب اللغه ۸۴مخ.

ډیر دروغجن کس و چې خبرې یې د پام وړ نه دي او د باطلو په مرسته کې هیڅ کمې نه دی کړی.[۲۸]

دا د عالمانو تر مینځ د جاحظ څیره وه چې مونږ لوستونکیو ته وړاندې کړه چې د جاحظ ظلم او تهمتونه څرګند شي چې څه رنګ په امت کې ښو کسانو ته باطل نسبتونه ورکړي دي او هغه یو غیر مستقل کس و او د باد بدلون سره به بدلیده. له ځانه به یې تهمتونه او تورونه جوړول او په آسانۍ سره به یې هغه دروغ رښتیا ثابتول.

جاحظ په ادبیاتو کې استاد و او د خلکو د عزت په وړلو او مسخره کولو کې یې برې درلود. او د خپل ذهني تصویر په اینځور کولو کې یې عجیبه قدرت درلود، د هغه لپاره دا مهمه نه وه چې متناقضه او سره ټکره لرونکی خبرې وکړي او په هر باب کې وغږیږي.

په اسانۍ سره به یې نظریه بدلیده او که یوه ورځ یې د خپل نفس نه خبره کړی وې نو ورته به انتظار وې چې بله ورځ بیا حقیقت ته راګرځي. او کله کله به یې حقیقت سره د مخالفت لپاره زر دلیلونه هم راوړل. هغه ډیرې مقالې او کتابچې لري په هغې د خپل زړه او هوس منلو خبرو لپاره دلیلونه راوړي او عقلی دلیلونو سره یې ثابتوي.

جاحظ په متناقضو او ټکره لرونکو څیزونو کې کتابونه لیکلي دي چې د هغه شخصیت ترې څرګندیږي چې په یوې لارې نه دی، کله کله عثمانی مذهبه لوړ ګڼي او علی علیه السلام پریږدي، د معاویه ستاینه کوي او د آل مروان خلافت په حقه ګڼي او خپل نفس ته تسلمیږي او بیا ګورو چې خپل عقل ته تسلیمیږي او د بنی امیه په هکله ټول

۲۸. مختلف الحدیث ابن قتیبه، ۷۱-۷۲مخونه.

حقیقتونه څرګندوي او معاویه یو داسې شرپسنده، ظالم او وینه تویوونکی انسان ښايي چې ټول علمونه یې د اسلام په خلاف وو.

بیا ګورو چې جاحظ د حضرت امام علی علیه السلام په فضیلت کې کتابچه لیکي او ډیر دلیلونه ورته راوړي. هغه په څرګنده وايي چې عقل مې په نفس غلبه موندې ده او ګمانونه او دروغ مې پرېښي دي. نو ښه دا ده چې دلته د حاحظ هغه لیکل راوړو چې اربلی په کشف الغمه کتاب کې راوړي دي.[۲۹]

د امام علی علیه السلام په ستاینه کې د جاحظ کتابچه

وايي: «دا د هغه چا لیکل دي چې شک او ګمان او نفسي غوښتې یې پرېښي دي او یقین او رښتیا او د خدای او د رسول اطاعت ته یې مخه کړې ده، او د امت په اجماع چې د قرآن او سنت لرونکی ده، باندې یې اعتماد کړی. د نورو کسانو قولونه یې پرېښي دي ځکه چې کیدی شي صحیح وي او کیدی شي غلط، ځکه چې پیغمبر(ص) خپلو اصحابو سره د بدر د اسیرانو په هکله مشوره وکړه ټولو دا قبوله کړه چې فدیه واخلي، خو دا آیت نازل شو:

ما كانَ لِنَبِیٍّ أَنْ یَكُونَ لَهُ.

نو تاسو ته څرګنده شوه چې د نورو نظریې کیدی شي صحیح وي او کیدی شي باطلې وي. خو کوم څه چې صحیح دي هغه قرآن او سنت او هغه اجماع ده چې قرآن او سنت ته شامله وي. مونږ خو پیغمبر(ص) نه دی لیدلی او نه مو د هغوي اصحاب لیدلي چې امت

۲۹. کشف الغمه ۱ټوک، ۱٤۷مخ.

د هغو په هکله اختلاف لري، نو نه پوهیږو چې کوم یو په حقه و چې هغه سره شو لکه خدای پاک فرمایي: «کُونُوا مَعَ الصّادِقِینَ؛ له رښتونو سره شئ» او نه پوهیږو چې کوم یو په باطله و چې ځَان تري وساتو؟ لکه چې خدای پاک فرمایي: «وَ اللهُ أَخْرَجَکُمْ مِنْ بُطُونِ أُمَّهاتِکُمْ لا تَعْلَمُونَ شَیْئاً، خدای پاک تاسو په داسې حال کې دنیا ته راوستئ چې په هیڅ نه پوهیدئ» تر دې چې مونږ علم ترلاسه کړ او دین او دیندارانو، حق پالو او ریښتونو پسې وګرځیدو نو خلک مو ولیدل چې دوه ډوله دي: یو ډول هغه خلک دی چې وایي: پیغمبر(ص) په داسې حال کې وفات شو چې له ځانه وروسته یې د خلافت لپاره څوک نه دي ټاکلي او دا خبره یې مسلمانانو ته پریښې ده چې خپله یو کس خوښ کړي او هغوي ابوبکر خوښ کړ.

او دویم ډول هغه دي چې وایي: پیغمبر(ص) علی علیه السلام له ځانه وروسته خلیفه وټاکه او د مسلمانانو امام یې وګرځاوه.

په دغو کې دواړه فرقې ځان په حقه ګڼې، نو مونږ څېړنه وکړه چې وګورو کومه یوه فرقه په حقه ده او کومه په باطلې؟

له ټولو مو پوښتنه وکړه: آیا خلک یو والي ته اړتیا لري که نه، چې د هغوي کارونه سم کړي، زکات راغونډ کړي او په مستحقینو یې تقسیم کړي، له طاقتوره د ضعیف واخلي او حدونه جاري کړي؟

نو ویې ویل: هو یو والي ضروري دی.

مونږ پوښتنه وکړه: آیا د خدای کتاب او د رسول سنت ته په بې پامې سره دا کار کولی شو؟

ويې ويل: نه جايزه نه ده بلکې بايد د خدای کتاب او د رسول سنت ته وګورو.

نو له ټولو مو پوښتنه وکړه چې هغه اسلام چې خدای يې حکم کړی دی هغه څه دی؟

ويې ويل: هغه شهادتين دی او په هغه څه اقرار کول دي چې کوم د خدای له خوا راغلي دي او لمونځ، روژه، حج، د قرآن په حلالو عمل او له حرامو يې ځان ساتل دي.

نو دا څيزونو مونږ قبول کړل ځکه چې د ټولوورباندې اجماع ده.

بيا مو له ټولو پوښتنه وکړه: آيا د خدای په نزد داسې ښه مخلوق شته چې هغه خوښ کړی وي؟

ويې ويل: هو.

پوښتنه مو وکړه: دليل مو څه دی؟

ويې ويل: د خدای پاک دا قول: «وَ رَبُّکَ يَخْلُقُ ما يَشاءُ وَ يَخْتارُ ما کانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ[۳۰]؛ او ستا ربّ چې څه وغواړی پيدا کوي (او چې څه وغواړي) اختياروي يې (خو) هغوي (د خدای په مقابله کښې) څه اختيار نه لري».

نو پوښتنه مو وکړه: خوښ کړې شوي څوک دي؟

---

۳۰. قصص ٦٨.

ويې ويل: هغه متقييان دي.

نو پوښتنه مو وکړه: ستاسو دليل څه دی؟

ويې ويل: د خدای پاک دا قول: «انَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقاكُمْ؛ د خدای په نزد په تاسو کښې له ټولو عزتمن، ستاسو له ټولو متَقي کس دے»[٣١].

نو پوښتنه مو وکړه: آيا په متقانو کې هم خوښ کړي شوي شته؟

ويې ويل: هو!: هغه مجاهدين چې له خپل مال او ځانه تير شول ځکه چې خدای پاک فرمايي: «فَضَّلَ اللهُ الْمُجاهِدينَ بِأَمْوالِهِمْ وَ أَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقاعِدينَ دَرَجَةً؛ خدای په خپلو مالونَو او ځانونَو سره جهادَ کوونکيو تهَ په کښيناستونکيو (يوه درجه) فضيلت ورکړے دے»[٣٢].

نو پوښتنه مو وکړه: آيا په مجاهدينو کې هم خوښ کړي شوي شته؟

ويې ويل: هو! هغه کسان چې له ټولو وړاندې جهاد ته لاړل، خدای د دې قول په سبب: «لا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَ قاتَلَ؛ له تاسو ځينې کسانو له برې (د مکې له فتحې يا صلح حديبيه) مخکښې انفاق کړې او جنګيدلي دي ( له نورو سره) برابر نه دي»[٣٣].

---

٣١. حجرات ١٣.

٣٢. نساء ٩٥.

٣٣. حديد ١٠.

دا ټولې خبرې مو له هغوي قبولې کړې ځکه چې ورباندې يې اجماع لرله، او په دې هم پوه شو چې د خدای خوښ کړي بندګان هغه مجاهدين دی چې په جهاد کې له نورو وړاندې وو.

آيا په دوي کې هم د خدای خوښ کړې شوي شته؟

ويې ويل: هو!

نو پوښتنه مو وکړه: هغه څوک دي؟

هغه کسان چې له نورو يې زيات د خدای په لاره کې جهاد وکړ، زيات ګزارونه يې وخوړل، او زياتې سختۍ يې وليدی، د خدای د دې قول له سببه: «فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقالَ ذَرَّةٍ خَيْراً يَرَهُ» او بيا فرمايي: «وَ ما تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللَّهِ».

نو دا خبره مو له هغوي قبوله کړه او پوه شو او وموپيژندل چې له ټولو غوره شوي کسان د خدای په نزد هغه دي چې له ټولو زياتې د جنګ سختۍ يې زغملي او له ټولو زيات د خدای اطاعت يې کړی او له ټولو زيات د اسلام دښمنانو سره جنګيدلي دي.

نو د دغه دوو کسانو په هکله مو پوښتنه وکړه، يو علی بن ابی طالب او دويم ابوبکر چې په دې دواړو کې کوم کس د جنګ سختۍ له بله زياتې ليدلي او کوم کس له بله زيات د خدای په لاره کې ازميښتونه په ښه طريقه زغملي دي؟

نو دواړه فرقې په دې يوه خله دي چې هغه امير المومنين على ابن ابى طالب عليه السلام دى چې هم زيات جنګيدلى او هم يې ډيرې سختۍ ليدلي دي او له نورو يې زيات د خداى له دينه ساتنه کړې ده.

نو کوم څه چې مو بيان کړل ورسره دا ثابته شوه چې د فريقينو په دې باندې اجماع ده او قرآن او سنت په دې دلالت کوي چې حضرت على عليه السلام افضل او غوره دى.

او بيا مو ترې پوښتنه وکړه چې په متقيانو له ټولو غوره څوک دي؟

نو ويې ويل: هغه کسان دي چې له ټولو زيات خشوع لري (د خداى حکم ته سرټيټې وي)، ځکه چې خداى پاک فرمايي: «وَ أُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ. هذا ما تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ. مَنْ خَشِيَ الرَّحْمنَ بِالْغَيْبِ وَ جاءَ بِقَلْبٍ مُنِيبٍ؛ په هغه ورځ) به جنت پرهيزګارانو ته نزدې کړې شي چې (له هغوى) لرې نه وي، دا هغه څه دي چې تاسو سره به يې وعده کيده د هر يو راستنيدونکي او (د خداى د پولو) خيال ساتونکي لپاره، هغه کس چې په پټه له رحمان (خدايه) ويريږي او په ستنيدونکي زړه سره (خداى ته) راشي»[٣٤]. او د خداى دا قول: «أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ؛ دا جنت مو د هغه متقيانو لپاره چمتو کړى چې له خدايا ويريږي».

او بيا مو ترې پوښتنه وکړه: خاشعون څوک دي؟

---

٣٤. سوره ق: ٣١-٣٣.

ويې ويل: هغه عالمان دي، د خدای د دې قول له مخې: «إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبادِهِ الْعُلَماءُ؛ په خلکو کښې يوازې پوهان (عالمان) له خدايه ويرېږي»[٣٥].

بيا مو له ټولو پوښتنه وکړه: له ټولو عالم کس څوک دی؟

ويې ويل: څوک چې په خبرو کې له نورو زيات عالم او حقو ته زيات له ټولو زيات نزدی او له ټولو زيات حق لري چې پيروي يې وشي او د بل پيروي کوونکی نه وي، د خدای پاک د دې قول په سبب: «يَحْكُمُ بِهِ ذَوا عَدْلٍ مِنْكُمْ» يعنی خدای پاک حکومت د عادلانو لپاره ګرځولی دی.

دا مو له هغوي قبوله کړه او پوښتنه مو ترې وکړه: په عدالت باندې له ټولو پوه کس څوک دی؟

ويې ويل: هغه کس چې له نورو زيات د عدل په لور لارښوونه کوي.

ومو ويل: نو کوم کس له نورو زياته د عدل ښوونه کوي.

ويې ويل: هغه کس چې حقو ته نزدی دی او د پيروي کولو وړتيا لري او په چا پسې نه ځي بلکې خلک په هغه پسې ځي، د خدای پاک د دې قول له مخې: «أَفَمَنْ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ أَحَقُّ أَنْ يُتَّبَعَ أَمَّنْ لا يَهِدِّي إِلَّا أَنْ يُهْدى فَما لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ؛ ايا څوک چې د حقو هدايت کوي هغه د پيروی زيات حقدار دے که هغه څوک چې پخپله لار

٣٥. فاطر: ٢٨.

نه مومي تر څو چې ورته هدایت و نه شي؟ نو بیا په تاسو څه شوي دي؟ څنګه فیصلې کوئ؟»[٣٦]

نو د خدای کتاب او د پیغمبر صلّی الله علیه و آله و سلّم سنت او الإجماع په دې په دې دلالت کوي چې د پیغمبر(ص) نه پس د امت له ټولو غوره کس علی ابن ابی طالب علیه السلام دی ځکه چې له ټولو زیات جهاد کړی نو له ټولو تقوا دار دی، او له دې سببه چې له ټولو تقوا دار دی نو له ټولو خاشع هم دی، او له دې سببه چې له ټولو خاشع دی نو له ټولو عالم هم دی، او له دې سببه چې له ټولو زیات عالم دی نو له ټول زیات عادل دی او له دې سببه چې له ټولو زیات عادل دی نو له ټولو زیات د حقو په لور هدایتوونکی دی، او له دې سببه چې له ټولو زیات د حقو په لور هدایت کوونکی دی نو پیروی له نورو زیاته وړتیا لري او له ټولو زیات حق لري چې په خپله حاکم وي نه دا چې د نورو پیروي وکړي.

او ټول امت په دې خبره یوه خله دی چې پیغمبر(ص) له ځانه وروسته دوه څیزونه پریښودل یو قرآن او بل سنت، او مونږ ته یې حکم کړی چې که مشکل پیدا شو دغه دوو ته رجوع کوئ نو تاسو ته به هغه څه وښايي چې له شکه به مو وباسي، نو کله چې مو دا دواړه وکتل نو خدای پاک فرمايي: «وَ رَبُّکَ یَخْلُقُ ما یَشاءُ وَ یَخْتارُ؛ او ستا ربّ چې څه وغواړی پیدا کوي (او چې څه وغواړي) اختیاروي یې»[٣٧] که وویل شي په کوم دلیل یې اختیاروي نو قرآن ګورو: «إِنَّ أَکْرَمَکُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقاکُمْ: په تاسو کې د خدای په نزد له ټولو زیات ښه کس هغه دی

٣٦. سوره یونس: ٣٥.

٣٧. قصص: ٦٨.

چې له ټولو زيات متقي وي» «وَ أُزْلِفَت الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعيد. هذا ما تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفيظ. مَنْ خَشَيَ الرَّحْمنَ بِالْغَيْبِ؛ (په هغه ورځ) به جنت پرهيزګارانو ته نژدې کړې شي چې (له هغوي) لرې نه وي. دا هغه څه دي چې تاسو سره به يې وعده کيده د هر يو راستنيدونکي او (د خدای د پولو) خيال ساتونکي لپاره.هغه کس چې په پټه له رحمان (خدايه) ويريږي»[٣٨].

نو دغه آيتونه په دې باندې ګواهي کوي چې متقين هماغه خاشعان دي، بيا قرآن لولو: «إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبادِهِ الْعُلَماءُ؛ له ټولو زيات عالمان له خدايا ويريږي» بيا ادامه ورکوو ګورو چې عالمان غوره دي که نور، خدای پاک فرمايي: «هَلْ يَسْتَوِي الَّذينَ يَعْلَمُونَ وَ الَّذينَ لا يَعْلَمُونَ؛ آيا هغه کسان چې پوهيږي(علم لري) او هغه کسان چې نه پوهيږي سره برابر دی؟»[٣٩] نو پوهيږو چې عالمان له نورو زيات افضل دي.

بيا فرمايي: «يَرْفَعِ اللهُ الَّذينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَ الَّذينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجات؛ خدای په تاسو کښې د هغه کسانو چې ايمان يې راوړے دے او د هغه کسانو چې علم ورته ورکړے شوے دے درجې اوچتې کړي»[٤٠]

کيدی شي وويل شي: خدای پاک په دې آيتونو کې د عالمانو درجه لوړه کړې ده، او ټول امت په دې يوه خله دی چې په اصحابو کې هغه کسان چې له خدايه يې علم زده کړ څلور کسان دی: علی بن أبی طالب، عبد الله بن عباس، ابن مسعود او زيد بن ثابت.

٣٨. ق: ١٣-٣٣.

٣٩. زمر: ٩.

٤٠. مجادله: ١١.

البته ځيني کسانو ويلي دي: عمر، نو له امته پوښتنه کوو: له خلکو کوم کس د لمانځه اماتۍ ته غوره دی: نو دلته ټول يوه خله دي چې پيغمبر(ص) يوه ورځ له ټولو غوره قاريان وټاکل نو دغه څلور تنه يې له عمره غوره قرآن تلاوت کوونکي وښودل او عمر پاتی شو.

بيا مو له امته پوښتنه وکړه: په دې څلورو کې کوم يو کس د خدای د کتاب غوره تلاوت کوونکی، د خدای په دين ډير پوهيدونکی و؟

نو په خپلو کې يې اختلاف وکړ.

بيا مو ترې پوښتنه وکړه: د امامت لپاره څوک غوره دی؟

نو ټول په دې خبرې اجماع لري چې پيغمبر(ص) وفرمايل: «امامان له قريشو دي» نو ابن مسعود او زيد بن ثابت وغورځيدل او علی بن أبی طالب او ابن عباس پاتی شول، نو پوښتنه مو وکړه: په دې دواړ کې څوک د امامت لپاره غوره دی؟

نو ټول يوه خله دي چې پيغمبر(ص) وفرمايل: کله چې له قريشو دوه د فقهی علامان وي نو په هغوي کې چې کوم مشر وي او په هجرت کې وړاندې وي نو هغه پسې ځئ، نو عبد الله بن عباس هم وغورځيد او علی بن ابی طالب عليه السلام پاتی شو، نو هغه له نورو زيات د امامت حق لري، ځکه چې هم ورباندې امت اجماع کړی او هم ورباندې د خدای کتاب او د پيغمبر(ص) سنت ګواهي ورکوي. (د جاحظ خبرې ختمې شووې).

د جاحظ دا کتابچه أبو الحسن علی بن سعید فخر الدین عیسی بن أبی الفتح أربلی راوړې ده او ویلي یې دي: دا کتابچه مو د أمیر أبی محمّد حسن بن عیسی المقتدر بالله له کتابونو لیکلې ده[٤١].

د جاحظ په خبرو تر همدې ځایه بسنه کوو، او د ابن حزم هغه ظلم نه بیانوو چې د هشام په هکله یې په خپلو ویناو کې کړی دی او تورونه یې وربانديې لړولي دي. یوازې په هغه څه بسنه کوو چې هغه په خپلو کتابونو او ویناو کې په عالمانو دومره ظلم وکړ چې وویل شو: د ابن حزم ژبه او د حجاج توره سره برابر دي. ځکه چې دواړو په مسلمانانو یو شان ظلم کړی دی. ابن حزم په شیعو بانديې داسې تورونه لړوی چې عقل سره سمون نه لري، او نه پوهیږو چې له کومه یې نقلوي، د هغه د خبرو فیصله خدای ته پریږدو چې هغه ورسره حساب وکړي.

**بیا د هشام په هکله**

د هشام د ژوند په هکله څیړنه په هغه بانديې د لړیدلو تورونو سبب روښانه کوي او یو څیړونکی او محقق کس په آسانۍ سره پوهیږي چې په هغه بانديې دومره ظلم ولی شوی دی او ولې ورته د دومره دروغو نسبتونه ورکړې شوي دي چې د هغه ایمان او عقیدې سره هیڅ سمون نه لري.

مونږ د ځیني کسانو هغه سره د دښمنۍ ځیني سببونه بیان کړل، خو دلته یو بل څیز دی او هغه دا چې هشام یو مزبوت شخصیت، پراخ فکر او پخه عقیده لرله، هغه په خپل ایمان کې پوخ او په عقیده کې

٤١. کشف الغمة ١٢- ١٣مخونه او مناقب آل ابی طالب١ټوک٣١٠مخ.

مزبوت و، او د یو حاکم په وړاندې هم له خپل ایمان او عقیدې نه وروسته کیده او د مخالفینو زیات والي هغه نه ویروه، او په یوې مناظرې کې یې ماته ونه خوړه او له خپل امامه جدا نه شو، د خپلې زمانې د باچا له نظرونو سره به یې مخالفت کاوه او مزبوتو دلیلونو سره به یې خپل نظر ثابتاوه، د اهلبیتو علیهم السلام تر څنګ به حق ته د رسیدو لپاره جنګیده او د هغوي اطاعت به یې واجت ګڼه. او د مخالفانو له زیاتوالي به نه ویریده، او باچا او حکومت سره له مخالفته هیڅ نه ویرید.

له همدې سببه د هغه د شخصیت د خرابولو ډیرې دسیسې او چلونه جوړ شول هغه چلونه چې هغه وخت سره مناسب وو، ان تر دې چې له ټولو مزبوته وسله چې د هغوي په لاس وه یعنې د بدعت، ملحد او بی دین تور لږول یې هم وکارول چې د هغه شخصیت له منځه یوسي.

او له دې تولو تورونو د خلاصي لپاره د هغه په حق کې د امام صادق علیه السلام دا قول کافی دی: «یا هشام ما زلت مؤیدا بروح القدس؛ ای هشام ته تل د روح القدس په تایید کې یې». او د امام دا قول: «هذا ناصرنا بقلبه و لسانه؛ دا په خپل زړه او ژبې سره زمونږ مرستیال دی. او د دا قول: «هشام رائد حقّنا المؤیّد لصدقنا، و الدافع لباطل أعدائنا، من تبعه و تبع أمره تبعنا، و من خالفه فقد عادانا؛ هشام زمونږ د حقو بیرغوال، زمونږ د رښتیاوو تاییدوونکی، زمونږ د دښمنانو د باطلو خبرو لری کووونکی، څوک چې د هغه او د هغه د خبرو پیروي وکړي نو زمونږ پیروي یې کړې ده، او څوک چې ورسره مخالف وکړي نو هغه مونږ سره دښمني کړې ده».

او سید مرتضی علم الهدی فرمايي: هغه څه ته په پام چې د هشام په هکله مو وویل، څنګه یو عاقل کس دا تصور کولی شي چې هشام داسې خبره وکړي چې خدای یې اووه لویشته دی. آیا هشام ته د داسې خبرو نسبت ورکول په داسې حال کې چې هغه امام علیه السلام سره داسې ټینګه رابطه لرله، د هغوي له علمه خړوب شوی بې له دې بل څه دي چې په امام باندې ګوته اوچته شي؟ آیا په دې خبرې پوهیږي چې کله دا ووايي چې هشام دا عقیده لرله نو مطلب یې دا دی چې امام یې هم داسې عقیده لرله؟ ځکه چې که امام یې داسې عقیده نه لرله نو هشام یې له ځانه لرې کاو ولې نه؟ او د هغه د دغې باطل عقیدې مخه یې ولې نه نیوه؟[٤٢]

د هغه په حق نور روایتونه له نورو امامانو هم راغلي دي لکه د امام رضا علیه السلام دا قول، کله چې له امامه د هشام په هکله پوښتنه کیږي نو فرمايي: «رحمه الله کان عبدا ناصحا و أوذی من قبل أصحابه حسدا منهم له؛ خدای دې په هغه رحم وکړي هغه یو نصیحت کوونکی بنده و او د حسد د خاوندانو له خوا ډېر ازار شو»[٤٣].

او إمام جواد علیه السّلام فرمايي: «هشام بن الحکم رحمه الله ما کان أذبّه عن هذه الناحیة؛ خدای دې په هشام رحم وکړي، له شیعو یې څومره دفاع وکړ»[٤٤].

---

٤٢. الشافی ١٢مخ.
٤٣. رجال الکشی، ٤٨٦/٢٧٠ مخونه.
٤٤. هماغه ٤٩٥/٤٧٨مخونه.

لنډه دا چې هشام بن حکم یو لوړ مقامه، په حدیث کې ریښتونی او په ټولو علمونو لکه فقه، تفسیر او نورو فنونو کې مشهور کس و.

هغه خبره چې د پام وړ ده هغه هغه روياتونه دي چې له امامانو نقل شوي او په کې یې د هشام عقیده باطله ښودلې ده، بې له شکه دغه رنګ حدیثونه دروغ او حقیقته لرى دي.

یو له هغه حدیثونو چې له امام رضا علیه السلامه یې نقل کړی: «هشام ګمراه دی او ګمراه کوونکی دی او د امام کاظم علیه السلام په شهادت کې شریک دی». د شیعو یوه ډله امام رضا علیه السلام ته ورغله چې د دې حدیث د صحیح شونې په هکله ترې پوښتنه وکړي چې دا خبره تر کومه صحیح ده چې که صحیح وي نو بیا له هشامه ځان وساتي. نو موسی بن مشرقي وړاندې شو او له امام یې پوښتنه وکړه: آیا هشام سره مینه لرې که له هغه بیزاره یې؟

امام هشام سره مینه واجبه وګڼله او ویې فرمایل: «هشام سره مینه کوئ او چې څه درته ووایي نو په هغه عمل کوئ او په هغه باندې بري کیدل مه غواړئ، همدا اوس ورشه او هغوي(شیعو) ته ووایه: امام ماته هشام سره د مینې حکم وکړ».

همدرانګ یې وفرمایل: « خدای دې په هغه رحم وکړي هغه یو نصیحت کوونکی بنده و او د حسد د خاوندانو له خوا ډیر ازار شو»[٤٥].

له هغو یو کس چې له امامه یې د هشام په هکله پوښتنه کړې ده محمد بن زیاد دی ویې ویل: له یونس بن ظبیان مې واوریدل چې

٤٥. رجال الکشی، ٤٨٦/٢٧٠ مخونه.

ویل یې: امام صادق علیه السلام ته ورغلم وته مې وویل: هشام بن حکم ډیرې غټې خبرې کوي چې لنډه یې دا ده چې: هغه دا ګمان کوي چې خدای جسم دی، ځکه چې وايي: څیزونه په دوه ډوله دي، یا فعل دي یا جسم او صانع(جوړوونکی) خو فعل نه دی، نو صانع هماغه فاعل دی.

امام ورته وفرمایل: «وای دې وي په هغه آیا هغه ته دا پته شته چې جسم محدود دی او انتها لري او توان یې ختمیدونکی دی، او که یو څیز حد ولري نو د کمې او زیاتې په کې کیدی شي او په کوم څیز کې چې کمې او زیاتې کیدی شي نو هغه مخلوق دی»[٤٦]

دا خبرې یونس بن ظبیان د امام له قوله نقلوي او د پام وړ خبره دا ده چې پوه شئ چې ظبیان د هشام دښمن دی. چون یونس له هغه غالیانو دی چې د دین نامه یې بدرنګه کړه یونس د ابن الخطاب له یارانو و. ابن الغضائري وايی: یونس بن ظبیان کوفی، غالي، دروغجن او جعلي حدیث جوړونکی وو..

نجاشي وايی: هغه یو داسې کس دې چې د هغه روایت شوي حدیثونه د پام وړ نه دي د هغه ټول لیکل شوي کتابونه له غلطو ډک دي او د امامانو له خوا په هغه باندې لعنت راغلی دی.

لنډه دا چې هشام له هغه کسانو دی چې د خدای په لاره کې ډیر په ازار شو، او هغه له دغه ناروا تورونو ډیر لوړ دی نو هغه تورونو،

٤٦. التوحید ٩٩مخ، ٧حدیث.

تهمتونو دسیسو او چلونو ته پام نه کوو چې کوم د هغه په هکله نقل شوي دي.

## آیا امت د یو کس په قول راټینګولی شي؟

د هشام دښمنان له دې هم وړاندې تلي دي او له حده وتلي دي او دغه ناروا تهمتونه او تورونه یې په ټولو شیعو لېږولي دي، او دا یوه څرګنده غلطي دي. او توبه نعوذ بالله که د هشام په حق کې دا خبرې ومنو هم نو آیا دا جایزه ده چې نسبت ټولو شیعو ته ورکړو؟ او دا ووایو چې دغه دروغ عقیدې د ټولو شیعو عقیدې دي. او آیا د یو کس به جرم باندې ټول نیولی شو؟ دا یوه داسې خبره ده چې روغ عقل یې نه مني ځکه چې د انسانانو په ټولنو کې په هرې ټولنې کې داسې کسان شته چې باطله عقیده لري. خو دا ظلم شیعو سره په ځلونو ځلونو شوی دی او د یو کس جرم ټولو شیعو ته نسبت ورکړی شوی دی، لکه څه رنګ چې مو وویل چې مونږ له هغه تورونو یو تور هم د هشام په هکله نه قبلوو چې کوم په هغه لېږولي شوي دي، خو که د جدل د قاعد مطابق یې قبول هم کړو (چې هیڅ صحت نه لري) نو آیا دا صحیح ده چې ټولو شیعو ته یې نسبت ورکړو؟

په دې غلطې طریقې پسې مخکښینی یوه ډله کسان تللي دي او ځینې وروستیو کسانو هم دا غلطه لار نیولې ده او دا تهمتونه او تورونه یې یوازې په هشام نه دي لېږولي بلکې ټولو شیعو باندې یې لېږولي دي. مثلا خیاط معتزلي په خپل کتاب «الانتصار» کې په جاحظ پسې تلی دی او له دې وروسته چې په هشام یې دا تورونه بیان کړي وایي:

رافضیان دا عقیده لري چې خدای جسم او صورت لري، حرکت کوي او ودریږي، له یوه ځایه بل ځای ته ځي. خدای اول علم درلود او بیا یې علم پیدا کړ، تر دې چې وایي: دا د شیعو ټول توحید دی مګر په دوي کې ځینې کسان چې معتزله سره کښیناستل او معتزله شول او د توحید صحیح عقیده یې پیدا کړه او له رافضیانو لرې شول. خو ډیر کسان او ملایان یې همداسې دي لکه هشام بن سالم، شیطان طاق، علی بن میثم، هشام بن حکم او سکاکی، د ټولو خبره همداسې ده.

هغه وایی چې رافضان وایي: رافضیان دا عقیده لري چې خدای جسم او صورت لري، حرکت کوي او ودریږي، له یوه ځایه بل ځای ته ځي. او داسې روایتونه هم له امامانو ذکر کوي او بیلا بیلې خبرې چې په «الانتصار» کتاب کې راغلي دي.

آیا تاسو د دنیا په مخ یو شیعه داسې لیدلی دی چې هغه دا ووایه چې خدای شکل او صورت لري؟

مونږ نه غواړو چې دغه تهمتونه بیا ځلې بیان کړو کوم چې هیڅ حقیقت نه لري خو حق دا دی چې دغه طریقه چې کومه دوي خپله کړې ده او د شیعو په خلاف یې ډیر کتابونه لیکلي دي او بې له کوم تحقیق او څیړنې د یو منحرف کس کارونه یې په ټولو شیعو پورې تړلي دي نو که دا کار صحیح وي نو مونږ ته دې هم اجازت راکړي چې د هغوي د څو عالمانو نامې واخلو او کومې باطلې عقیدې چې یې درلودې هغه تاسو ته وړاندې کړم کوم چې د هغوي تر منځ هم مشهور دي:

١. شهاب الدين يحيي بن حبش، د هغه په هکله دا مشهوره ده چې هغه زنديق و، او د انحلال او تعطيل عقيده او نورې باطلې عقيدې يې هم درلودې او په علم کلام کې ماهر و[٤٧].

٢. محمّد بن جمال باجريقى شافعى چې په شمس مشهور و، هغه په زنديق او ملحد پيژندې شو، او ځيني لارويان يې درلودل چې د هغه په لاره روان وو[٤٨].

٣. رفيع الجيلى شافعى د دمشق قاضى القضاة و چې په ٦٤٢ هجري کال وفات شو. ابن شهبه په خپل تاريخ کې وايي: د هغه عقيده فاسده وه دهري و او د دين چارو پسې په يې ملندې وهلې. او ابن عماد وايي: هغه باطلې و فاسدې عقيدې لرلې بې دينه و او د مستۍ په حال کې به لمانځه ته راتله.[٤٩]

٤. عبد الله بن محمّد بن عبد الرزّاق حربوى بن الخوام شافعى، هغه به د حکومت وزير رشيد الدوله خپل رب ګڼه تر دې چې شاعر د هغه په حق کې داسې وويل:

يا حزب إبليس ألا فابشرواإن فتى الخوام قد أسلما

و كان فيما قال فى كفره إن رشيد الدين رب السّما

---

٤٧. شذرات الذهب ٤ټوک ٢٩مخ، او مرآة الجنات ٣ټوک ٤٣٧مخ.

٤٨. البداية و النهاية لابن كثير ١٤ ټوک ١٤مخ.

٤٩. شذرات الذهب ٥ ټوک ٢١٤مخ.

و قال لی شیخ خبیر به‌ما أسلم الشیخ بل استسلما[۵۰]

نو آیا دا صحیح ده چې مونږ ټولو مسلمانانو ته د هغه د عقیدې نسبت ورکړو لکه څه رنګ چې د حسن بن هانی چې اندلسی شاعر دی او د معز په ستاینه کې يې شعر ویلی دی نو د هغه نسبت يې ټولو شیعو ته ورکړی دی:

ما شئت لا ما شاءت الأقدار

فاحکم فأنت الواحد القهّار

وايي: شيعه په مبالغې کې دې حد ته رسيدلي دي او د حسن بن هاني دا قول يې راوړی دی چې مشرک شونه او کافر شونه ترې ثابته کړي[۵۱].

دا د دې روښنايۍ د زماني د محققينو خبرې دي نو د تيرې زماني د محققينو به يې څه حالت وي څکه چې هغوي خو سرچيني هم زياتې نه درلودې.

۵. محمّد بن العلی أبو عبد الله حکیم ترمذی شافعی. هغه به اولیاء له پیغمبرانو لوړ ګڼل، او د «ختم الولایه» کتاب يې په همدې غرض لیکلی دی، هغه وايي: د اولیاو لپاره هم خاتم شته لکه څه رنګ چې د انبیاو لپاره خاتم و او ولایت به يې په نبوت غوره ګڼه، دې حدیث سره به يې دلیل راوړه: «الأولیاء یغبطهم النبیون و الشهداء؛ د اولیاءو

۵۰. الدرر الکامنة ۲ ټوک ۲۹۲مخ.
۵۱ . أثر التشیع فی الأدب العربی، د محمّد سید ګیلانی کتاب ۸۹ مخ.

د حال به نبيان او شهيدان هم ارمان کوي». وايي که چرې وليان له نبيانو غوره نه وي نو ارمان به يې ولی کوي[٥٢].

٦. رکن عبد السّلام بن وهب بن عبد القادر جيلانی حنبلی وفات کال ٦١١ هجري.

هغه د حلول عقيده درلوده او نورو به هغه کافر ګڼه. ستورو سره به يې خبرې کولې او زحل ستوري ته به يې مخ کړ او ويل به يې: ای ځليدونکي ستوريه! ته د اسمانونو ساتنه کوې، ته ژوندي کول او مړول کوې او ته زمونږ پروردګار يې. او مريخ سره يې هم داسې خبرې شته[٥٣].

٧. صدقة بن حسين بغدادی حنبلی وفات کال ٢٦٧هجري کال. هغه په فقه او اصول کې ډير تکړه و که څه هم فاسدې عقيدې يې درلودې خو په خپل وخت کې له ټولو زيات عالم کس و. ابن جوزي په يو شعر کې د هغه باطلې عقيدې بيانوي، چې هغه به د خدای په قدرت اعتراض کاوه او د هغه يو شعر راوړي چې باطله عقيده يې څرګندوي لکه دا قول:

لا توطّنها فليست بمقامو اجتنبها فهی دار الانتقام

أ تراها صنعة من صانعأم تراها رمية من غير رام

---

٥٢. طبقات الشافعية ٢ټوک ٢٠مخ.

٥٣. شذرات الذهب ٥ټوک، ٤٥مخ.

د هغه منونکو د هغه لپاره دا خوب خو جوړ کړې چې وايي له مرګه وروسته مو هغه خوب کې ولید چې ویې ویل: خدای پاک زه د هغه خرما له سببه وبخښلم چې یوې بډۍ زما لپاره نذر کړې وې[۵۴].

۸. إسماعيل بن علی لقب يې فخر الدين و چې د حنبليانو فقيه و، وفات کال ۶۱۶ هجري دی. هغه هم په علم کلام کې مشهور و. فلسفه او منطق يې د عسايانو طبيب علی بان مرقيس سره لوستي وو، او کيدی شي عسايانو سره يې بيعت هم کړی وي، هغه يو کتاب ليکلی نامه يې «نواميس الانبياء» ده هغه په دې کتاب کې نبيان د حکماو په شان ګڼلي دي لکه هرمس، ارسطاليس هغه به په دين کې مسامحا کوله او ورپسې به يې ملنډې وهلې، د هغه په هکله ډير قبيح او ناوړه کارونه نقل شوي دي.[۵۵] دا کس يو له هغه باطلو عالمانو و چې غلط او انحرافی عقايد يې دلودل[۵۶].

۹. إبراهيم لقب يې شمس الدين حنبلی وفات کال ۶۱۰ هجري.

۱۰. إبراهيم بن يوسف أبو إسحاق أوسی مالکی وفات کال ۶۱۱ هـ په ابن المرأة باندې مشهور و، هغه مالکي فقيه و چې له علم کلام متاثر و ابن حبان هغه د اندلس له زنديقانو ياد کړی دی[۵۷].

۱۱. أبو معن ثميری د معتزله و له مشران و، ابن قتيبه وايي: د هغه په هکله دا مشهوره ده چې يوه ډله يې وليده چې د جمعي لمانځه

---

۵٤. لسان الميزان ۳ټوک ، ۱۸۶مخ.
۵۵. شذرات الذهب ۵ ټوک، ٤۱مخ.
۵٦. . شذرات الذهب ۵ټوک، ٤۰مخ.
۵۷. لسان الميزان ۱ټوک، ۱۲۷مخ.

ته يې منډې وهلې نو هغوي ته يې اشاره وکړه او ويې ويل: دې خرو غواګانو ته وګورئ، بيا يې خپلو يو ملګري ته وويل: دې عربي (پيغمبر) خلکو سره څه کړي دي[۵۸].

۱۲. محمّد لوشی غرناطی وفات کال ۷۷٦ هجري هغه ته د زنديق، ملحد او انحلال او له دينه د وتلو او د پيغمبر د مقام د کمولو او له دې نه علاوه نور ناوړه نسبتونه ورکړې شوي دي[۵۹].

له دې پرته ډېر داسې منحرف عالمان دي چې د هغوي په هکله خبرې کول زمونږ بحث اوږدوي، لکه شيخ نجم الدين بن خلکان[٦۰]، إسماعيل بن عبد الله رعينی، فخر الرازی لوي تاريخ ليکوال او تفسير کوونکی[٦۱]، أبو حيان توحيدی شافعی او نور، چې دوي ته د کفر او زنديق شونې او د فاسدې عقيدې نسبتونه ورکړې شوي دي.

او که دا بحث نور هم پراخ کړو او د ټولو هغه کسانو خبرې وکړو چې خلکو ترې خپل مذهب راختسی او د هغوي په لاره روان دي او حکمونه يې مني نو خبره به نوره هم خرابه شي. لکه محمّد بن حسن شيبانی وفات کال ۱۸۹ هجري، هغه د حنفی مذهب اصلي رکن دی او حنفيانو خپل حکمونه له هغوي اخستي دي. هغه ډېر کتابونه او تاليفات لري او هغه ته د حنفي مذهب دويم امام ويلې شو. او له دې ټولو سره هغه ته د مرجئه نسبت ورکړې شوی، له احمد بن حنبله

---

۵۸. تيره سرچينه، ۲ټوک ۸۳مخ.
۵۹. شذرات الذهب ٦ټوک، ٤٦.
٦۰. مرآة الجنان ٤ټوک، ۲٤۲مخ وګورئ.
٦۱. شذرات الذهب ۵ټوک، ۲۱مخ.

نقلوي: «هغه (شیبانی) مرجئي دی»[٦٢]. شریک قاضی د هغه ګواهي رد کړه کله چې د هغه او د ابی یوسف تر مینځ شخړه وشوه. ابو یوسف وايي: محمد بن حسن په جهمي مذهب دی، او نور ناوړه نسبتونه يې هم ورته ورکړي دي.[٦٣]

او د حنفي مذهب له لويانو يو کس بشر بن غياث مريسی وفات کال ۲۱۸ هجري. د هغه ستاينه يې داسې بيان کړې ده چې هغه ګمراه، بدعت ګزار دی او ابوزرعه د هغه په زنديق شونې نص لري. ازدي وايي: هغه له اسلامه پرته په بلې لارې و. هغه د قبر د عذاب او د نکيرينو منکر و او د قيامت ورځه او صراط او حساب کتاب يې نه منه او همدارنګ نورې فاسدې عقيدې هم هغوي ته نسبت ورکړی شوی دی[٦٤].

او همدرنګ محمّد بن شجاع ثلجی وفات کال ۲٦۷ هـ. له حنفيه عالمانو و، او په خپل وخت کې يې مشري درلوده او هغه ته د بدعت نسبت ورکړی شوی دی.

له احمد بن حنبله د هغه په هکله پوښتنه وشوه، نو ويې ويل: هغه بدعت ګزار او په خپلو نفسي غوښتو پسې کس دی. ساجی وايي: محمّد بن شجاع دروغجن دی او د دې لپاره چې د ابوحنيفه خبره په خلکو ومني د رسول الله صلی الله عليه و آله حديث يې بدل کړ.

---

٦٢. تاریخ بغداد، ۲ټوک، ۵۹۳/۱٦۹مخونه.
٦٣. وفيات الأعيان ۳ټوک، ۲۲٤مخ ، و لسان الميزان ج ۵ ص ۱۲۱.
٦٤. لسان الميزان ۲ ټوک، ۳۰مخ ، و الفوائد البهية فی تراجم الحنفية ص ۵٤، و الفرق بين الفرق للبغدادی ص ۱۲٤.

او ابن جوزي وايي: هغه به په تشبيه عقيدې حديثونه جوړل او هغه به يې اهل حديث پورې تړل[٦٥].

کوم څه چې بيان شوم دا د تاريخ يوه لنډه شان کتنه وه د هغه خلکو په هکله چې په عقيدو کې يې انحراف درلود خو د خپلو نظريو يواځې په خپله ذمه وار وو او چا داسې نه دي ويلي چې د هغوي د ټول مذهب دغه باطله عقيده ده. دغې تور لړليک سره نورې داسې نامې هم ورزياتولې شو چې د غلطې عقيدې تور ورباندې و، مثلا ابی حسن اشعري[٦٦]، چې د اهل سنت امام او مشر دی نو هغه يې هم په بدعت ګزار او ګمراهۍ سره ستايلی دی او دا چې هغه د پيغمبر صلی الله عليه و آله د نبوت انکار کړی و او دا عقيده يې درلوده چې خدای پاک به کافرانو او ګناهګارو ته سزا نه ورکوي او نه به مومنانو ته ثواب ورکوي او دا باور يې درلود چې عوام کافر[٦٧] دي نورې ډيرې دعوې يې هم لرلې چې په تاريخ کې راغلي دي او همدرانګ ابن تيميه او ابن قيم جوزي او تاج الدين سبکی او نور هم په دې لړليک ورزياتولی شو.

خو مونږ دارنګ طريقې ته نه مخ کوو او دا باطل قياس نه پکاروو او يعنې ټول قوم يو کس سره نه قياسوو او د يو کس په تور ټول قوم نه رانيسو بلکې د اسلامي شخصيتونو په هکله څيړنه کوو او که په چا

٦٥. الفوائد البهية ١٧٢مخ.

٦٦. ابوالحسن اشعري د ابوموسی اشعري له لمسيو و هغه د معتزله و له لويانو او مشرانو و.

٦٧. طبقات الشافعية ٢ ټوک، ٢٧٨-٢٨٥ مخونه.

تهمت راشي نو فورا يې نه قبلوو تر څو چې خبره څرګنده شوی نه وي. ځکه چې مونږ په اسلامي هيوادونو کې دغه طريقه وليده هغه قياسونه چې په اسلامي ټولنه کې يې عقل او عقلانيت يې له منځه وړی دی. نو په دې زمانه کې دغو قياسونو او طريقو ته مخه کول صحيح نه دي.

له دې ټولو عواملو سره سم نبايد د سياست له عامله غافل شو ځکه چې سياسی مشرانو به دا امت ټوټې ټوټې کاوه او ګټه به يې ترې اخسته.

غرض دا چې د يو کس ټول قوم سره مقايسه کول داسې شی دی چې عقل يې اجازه نه ورکوي او دوي د شيعو په بدنامۍ کې همدا لاره خپله کړې ده او بې له کوم تحقيق او څېړنې يې په هغوي تورونه لږولي او قبول کړي دي او تاريخ سره يې لوبې کړي دي او حقو سره يې باطل ګډوډ کړي دي «فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا وَ يَلْعَبوا حَتَّى يُلاقُوا يَومَهُمُ الَّذى يُوعَدُونَ؛ نو دوي پرېږده چې (په باطلو کښې) غوپې وهي او لوبې کوي تر دې چې ملاقات وکړي (د قيامت) له هغه ورځې سره چې وعده يې ورسره کړې شوې ده»[٦٨] او مونږ دا نه غواړو چې د هغوي په شان لاره خپله کړو او بالمثل مقابله وکړو بلکې هغوي د آخرت ورځې ته پرېږدو هغه ورځه چې عالمين به د خپل پروردګار په وړاندې ودرېږي نو له هغوي به د دې تفرقې د تخم کرلو هکله پوښتنه کيږي. ځينو نيغ په نيغه تورونه لږولي او ځينو د هغوي په

---

٦٨. زخرف، ٨٣.

ړندو سترګو تقلید کړی. له خدایا غواړو چې هغوي ته له دې عقلي ناروغۍ شفا ورکړي.

لنډه دا چې: داسې د ګډوډې حالت راغلی دی چې وروروړلي یې له منځه وړې ده او حقیقت یې بدل کړی، ځکه چې کله یو تهمت او تور کوم رښتوني اساس او بنسټ ونه لري نو یوه سمه قاعده لاس ته نه راځي او د حق او باطل تر مینځ فرق کول یې ګران کړی دی، او ګناهګار او بې ګناه له یوه بله نه شي پیژندی، د بحث د بشپړتیا لپاره تاسو ته څو نمونې وړاندې کوو:

١. «جعفری» نامه د حضرت امام جعفر صادق علیه السلام د لارویانو نامه وګرځیده خو د معتزله و دوه ډلې هم په دې نامه پیژندې شي:

اول: د جعفر بن حرب ثقفی لارویان. (وفات کال٢٢٤هجري).

دویم: د جعفر بن مبشر همدانی لارویان (وفات کال ٢٢٦ هجري)،

دا دواړه معتزله وو دوي ډېر کم او منحرف نظرونه درلودل او خلکو د دوي نظریې د (جعفریه) نظریې ګڼلې، نو کوم کسان چې حق له باطله د جدا کیدو توان نه لري[٦٩] نو بې له کوم فکره دغه دوه فرقې هم د امام جعفر صادق علیه السلام لارویانو سره ګډباسي او د هغوي قولونه د شیعو قول ګڼي.

٦٩. ضحی الاسلام، ٣ټوک، ٤٨مخ؛ الانتصار، ٨١ او ٨٩ مخونه.

۲. د مفضل بن عمر په هکله ویل شوي دي: «هغه به کوترو سره لوبې کولې او هغه د ابی الخطاب له یارانو و»[۷۰]. مفضل یو داسې کس دی چې ډېر لوړ مقام لري خو خکل هغه مفضل بن عمر صیرفي سره ګډ وډ کړی دی، صیرفی له خطابیانو و او د اسلام بنیاد سره مخالف و، نو ځینې کچ فکره کسانو د دې لپاره چې مفضل بدنام کړي نو هغه مفضل چې د امام علیه السلام صحابي و او لوړ مقامه کس و هغه ته یې دا نسبت ورکړی دی او ویلي یې دي هغه به کوترو سره لوبې کولې.

۳. په معتزله و کې یوه فرقه ده چې هشامیه ورته ویلی شي چې د هشام بن عمر فوطی[۷۱] اصحاب دي، او هغ هشام بن حکم سره په یو وخت ژوند کاوه، او ډېرو منکراتو ته لاړ و. نو کله چې یو محقق په هشام باندې تهمتونه وګوري او پلټنه یې وکړي نو هغه به هشام بن عمر فوطی وي، ځکه چې دوي هشام بن حکم او هشام بن عمر فوطي په خپلو کې ګډوډ کړي دي[۷۲].

او داسې ډېرې ګډوډۍ چې که بیان یې کړو نو دلته خبرې اوږدیږي. بیا د هشام بن حکم بحث ته ورګرځو او دلته هشام ته د امام موسی کاظم علیه السلام ځینې وصیتونه بیانوو چې کوم غوره وصیتونه دي، او د دې په رڼا کې مونږ هشام نور هم ښه پیژندی شو. مونږ دلته لږ وصیتونه راوړو که څه هم دا ډېر دي.

---

۷۰. قاموس الرجال، ۹ټوک، ۹۳-۱۰۴مخونه.

۷۱. الملل و النحل، شهرستانی، ۱ټوک، ۷۰مخ.

۷۲. سیر الاعلام النبلاء، ۱۰ټوک ۵۴۶مخ، شمیره۱۷۷.

**هشام بن حکم ته د امام موسی کاظم(ع) وصیتونه**

حضرت امام موسی کاظم علیه السلام هشام ته په وصیت کې وفرمایل:

«ای هشامه! څوک چې بې ماله شته مني غواړي او له حسده د زړه آرامښت غواړي، او په دین کې سلامتي غواړي نو له خدایه دې وغواړي چې عقل ورته بشپړ او کامل کړي، نو څوک چې له عقله کار واخلي نو بسنه او قناعت کوي او څوک چې په هغه څه بسنه وکړي چې ورسره وي نو خدای یې شته منوي او څوک چې په هغه څه بسنه ونه کړي چې کوم ورسره وي نو هغه به هیڅ کله شته مني ونه ګوري.

ای هشامه! د چا چې ژبه ریښتونې شوه نو عمل یې پاک شو او د چا چې نیت ښه شو رزق یې زیات شو، او د چا چې خپلو وروڼو او کورنۍ سره نیکي زیاته شوه نو عمر یې زیات شو.

ای هشامه! نادانو ته د حکمت خبرې مه کوه ځکه چې دواړه په حکمت ظلم کوئ، او د حمکت له وړتیا لرونکي، حکمت مه غړوه ځکه چې دا هغه سره ظلم دی، لکه څه رنګ چې (دنیا پالو) حکمت تا ته درپریښی ته هم همدارنګ دنیا هغوي ته ورپریږده.

ای هشام! امیر المومنین علیه السلام به فرمایل: د مجلس په سر کې دې یواځې هغه کس کښیني چې درې ځانګړتیاوې ولري: کله چې ترې پوښتنه وشي نو ځواب یې ورکړي، او کله چې نور قوم له خبرو پاتې شي نو دې خبره وکړې شي او داسې نظر ورکړي چې د مجلس

والو په کې خير وي نو که يو کس په دې دريو ځانګړتياوو کې يوه هم نه لري نو هغه ډير احمق دی چې د مجلس په سر کې کښيني.

ای هشامه! عاقل کس هغه چا سره خبرې نه کوي چې هغه يې دروغجن ګڼي، او له هغه چا غوښته نه کوي چې له منع کولو يې ويريږي، او د کوم څيز چې توان نه لري د هغې وعده چا سره نه کوي، او د هغه څه هيله نه کړي چې هيلې سره يې سپکاوې کيږي او د هغه څه په لور قدم نه اوچتوي چې په هغې کې د پاتې راتلو ويره لري.

ای هشامه! خدای دې په هغه کس رحم وکړي چې له خدايه داسې حيا وکړي لکه څه رنګ چې د حيا حق دی او خپل سر او هغه څه چې په سر کې دي خوندي وساتي، او خېټه او هغه څه چې په خېټه کې دي (له حرامه) وساتي، او مرګ او خاورې کيدل ياد وساتي، او په دې پوه شي چې جنت په سختيو کې نغښتی شوی او اور په شهوتونو کې نغښتی شوی دی.

ای هشامه! څوک چې ځان د خلکو له بې عزتۍ وساتي خدای پاک به په قيامت کې د هغه له خطا تيريږي او څوک چې خلک له خپلې غصې په امان وساتي نو خدای به په قيامت کې هغه له خپلې غصه په امان وساتي.

ای هشامه! له علمه چې دې کوم څه نه وي زده کړې هغه زده کړه او کوم څه چې دې زده کړي وي ناپوهانو ته يې پوهه ورکړه. د پوه کس د هغه د پوهې له سببه درناوې وکړه، او جاهل کس د هغه د

جهل له سببه وړوکي وګڼه خو له ځانه يې مه شړه بلکې ځان ته يې نږدې کړه او علم ورته وښايه.

ای هشامه! خلک سره نرمي کوه ځکه چې نرمي ښه او سختي بده ده، نرمي او نيکي او ښه اخلاق داسې څيزونه دي چې کورونه ورسره اباديږي او عمرونه ورسره زياتيږي.

ای هشامه! دنيا د مار په مثال ده چې ظاهر يې نرم دي دننه په کې قتلوونکي زهر دي عاقل سړي له هغې ځان ساتي او ماشومان هغه په لاسو رانيسي.

ای هشامه! زرغونه په نرمه ځمکه کې زرغونيږي او په سخته ځمکه کې نه زرغونيږي، همدارنګ حکمت په متواضع زړونو کې ځای نيسي او د متکبر او ظالم په زړه کې ځای نه نيسي، له دې سببه چې خدای پاک تواضع د عقل ابزار جوړ کړی دی او تکبر يې د جهل ابزار، آيا تاته معلومه نه ده چې څوک سر په چت وهي نو سر يې ماتيږي او څوک چې سر ټيټ کړي او چت ورباندې سيورې کوي او پناه ورکوي؟ همدرانګ څوک چې خدای پاک ته متواضع او سر ټيټې نه شي نو خدای پاک هغه ټيټوي او څوک چې خدای ته سر ټيټ کړي نو خدای يې اوچتوي.

ای هشامه! خلکو سره له يو ځای کيدو او مينې ځان وساته مګر دا چې په هغوي عقل او امن ووينې نو ورسره يو ځای شه او له نورو وتښته لکه څه رنګ چې له ښکاري ويريږې. عاقل کس چې کله يو عمل کوي بايد داسې عمل وکړي چې په کې له خدايه حيا وکړي. او کله چې دوو کارونو سره مخامخ شې او دا درته نه وي معلومه چې

کوم ستا لپاره ښه او غوره دی نو وګوره چې کوم یو ستا نفسی غوښتو ته نزدې دی نو هغې سره مخالفت وکړي ځکه چې ډیر صحیح کارونه هغه وي چې د نفسانی غوښتو مخالف وي.

ای هشامه! څوک چې دنیا سره مینه وکړي نو د آخرت ویره یې له زړه وځي، کوم کس ته چې علم ورکړی شي او د هغه دینا سره مینه زیاته شي نو پوه شه چې له خدایه لری شوی دی. او کله چې له خدایه لری شي نو خدای ورباندې خپل غضب زیاتوي.

ای هشامه! له طمعې ځان وساته، او کوم څه چې د خلکو په لاس کې دي له هغې ځان ناهیلي کړه، ځکه چې طمعه د خوارۍ کلي او کونجي، د عقل خلاصې، د میړنتیا له منځه وړل، د احترام د پردو شلول او د علم له منځه وړل دي. ته باید خدای ته پناه یوسې او په هغه توکل وکړې، خپل نفس سره مقابله وکړه چې له نفساني غوښتو یې لری وساتې ځکه چې دا مقابله په تا داسې فرض ده لکه څه رنګ چې دښمن سره جهاد کول په تا فرض دي».

هشام وایي: له هغه حضرته مې پوښتنه وکړه: کومو دښمنانو سره جنګ فرض دی؟

هغه حضرت وفرمایل: «کوم چې تاته له نورو زیات نږدې او ستا له نورو زیات دښمن او نورو زیات زیان رسوونکی وي او که څه هم ته ورسره نزدې وي خو له ټولو زیاته دښمني تا سره کوي، هغه سره لومړۍ جهاد کول فرض دي».

«ای هشامه! چاته چې خدای پاک درې ځیزونه ورکړي نو هغه باندې مهرباني کړې ده: یو داسې عقل ورکړي چې کوم غم چې ورته د نفس له خوا وررسي له هغې مخنیوې وکړي او داسې پوهه ورته ورکړي چې د ناپوهۍ غم ترې لرې کړي او داسې شته مني ورکړي چې له فقره یې وساتي.

ای هشامه! له دې دنیا او له اهله یې وویرېږه، ځکه چې خلک دلته په څلور ډوله دي: یو هغه سپک کس چې په خپلو نفساني غوښتو پسې دی، د قرآن هغه قاري چې څومره یې علم زیاتیږي هم دومره یې تکبر زیاتیږي او قرآن لوستو او خپل علم سره په نورو تکبر کوي، او هغه جاهل عابد چې نور کسان چې له هغه په عبادت کې کم دي واړه ګڼي او دا خوښوي چې د هغه درناوې وشي او لوي وګڼلی شي، او یو هغه د پوهې او نظر خاوند چې غوړي په خپلې پوهې او علم عمل وکړي خو نه شي کولی او له همدې سببه غمګین دی په داسې حال کې چې د خپلې زمانې د پوهانو له ټولو بیلګه او له ټولو د ښه عقل خاوند دی». بیا امام عقل او د هغې پوځونه او جهل او د هغې پوځونه بیان کړل چې مونږ یې دلته د لنډوالي په سبب پریږدو.